

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

اهداء

خوار بز گرته

Digitized by Google



د شاعر پسرلی

د

محمد جان (فنا)

ذوهم اثر

PROPERTY OF PACKU 6185

مهتمم : قاسم «سوزان»
دچاپ شمیر : ۵۰۰
دچاپ نیټه : وری ۱۳۴۰

فهرست

شمېر	شعر	مخ
۱	پیل	۱
۲	عشق	۱
۳	کائنات	۲
٤	دتالندې کوکار	٤
٥	دپسرلی ناوې	٤
٦	بربښنا	۷
۷	دتوتکی شور	۸
۸	نیالګی	۹
۹	دوریځ ژړا	۱۰
۱۰	خاخکی	۱۱
۱۱	دبودې ټال	۱۲
۱۲	دشپونکی شپېلی	۱۳
۱۳	د شقق سره خبرې	۱٤
۱٤	مېږی څه وایې	۱٥
۱٥	د هېواد پسرلی	۱٦
۱٦	اې پښمانه	۱۹
۱۷	بن	۲۱
۱۸	سرو	۲۳
۱۹	چمن وایی	۲۳
۲۰	دسحر نسیم ته	۲۳
۲۱	غوټی	۲٥
۲۲	اغزی	۲٦
۲۳	ګل	۲۷
۲٤	دپسرلی ګل	۲۸
۲٥	دبلبل نغمه	۳۰
۲٦	دفواري ساز	۳۰
۲۷	باد	۰۲۷
۲۸	دتوتی سندري	۱
۲۹	څانګه	۱
۳۰	دحباب خندا	۲
۳۱	شنه پانه	۳۰
۳۲	دسیند څپو نغمې	۳۱
۳۳	زېری ګلونه	۳۲
۳٤	خوږ انار	۳۳
۳٥	مڼې ته	۳٤
۳٦	سپین زر	۳٥
۳۷	کیمیا بوټی	۳٦
۳۸	دغنمو وزی	۳۷
۳۹	دمچمچی ناره	۳۸
٤۰	چینه	۳۹
٤۱	منګی	٤۰
٤۲	طبی نباتات	٤۱
٤۳	چرس	٤۲
٤٤	یووزی انګوریم	٤۳
٤٥	دام اودانه	٤٤
٤٦	بندی کوتره	٤٥
٤۷	داوریازمزمه	٤٦
٤۸	واهم یوخیال	٤۷
٤۹	مېوه	٤۸
٤۹	دپښتونخواغرونه	٥۰
٥۱	خاوره	٥۱
٥۱	تیږه	٥۲
٥۲	کوچی	٥۳
٥۳	آسمانی پېغله	٥٤
٥٥	اوربشې	٥٥
٥٦	سپین زیری مالیار	٥٦
٥۸	دشکوفې جشن	٥۷
٥۹	دارغوان مشعل	٥۸
٥۹	دورېښمو چنجی	٥۹
٦۰	دشبنم مرغلرې	٦۰
٦۱	مرګ اوژوند	٦۱
٦۲	دبزګر چیغه	٦۲
٦۲	خپشاوه	٦۳
٦۳	تمباکو څه وایی	٦٤
٦٤	غاړول	٦٥
٦٥	قفس	٦٦
٦٦	زرکې ته	٦۷
٦۷	ګلچین شاعر	٦۸
٦۷	خزان	٦۹
٦۸	پای	۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿الف﴾

ښاغلی «مجروح» تقریظ

ښاغلی فنا.

ستاداشعار ومجموعه چه ماته دې را کړې وه ماوکتله، اوخوشعرونه چه دې ماولیدل خدای شته وې پرمې خوښ شو اوډېرخوند يې راکړ.

ستاپه بعض شعرونوکښې شعری لطافت اوادبی قوت له ورایه ښکاری تاچه دشعرونو دپاره کومې موضوع ګانې ټاکلی اوکوم عنوانونه چه دې پیدا کړی دی داپخپله ستاپه ښه استعداد اوستاپه ښه قریحه دلالت کوی.

که ته خپل دادبی تکامل سیر ته دوام ور کړی اوپه دې لار کښې څوقدمه نور مخکښې لاړشې دپښتو په شاعری کښې به یو ښه پیاوړی شاعرداعلاموپه فهرست کښې زیات شی؛ اودپښتودادب سنګر کښې به یوبل ښه سپاهی پیداشی اوهغه به ته یې!

ته فنا یې مګر ډاډه اوسه شعر به دې دایم باقی وی که خدای کول.

سید شمس الدین «مجروح»

★ ★ ★

د بناغلی «الفت» تقریظ

دشاعرپسرلی دبناغلی فناصافی داشعارومجموعه ده چه په شاعرانه او ادبی. رنګ کښئ د اجتماعی ژوند نـاوړه خـواوې له انتقاد لاندې نیولی دی دا اشعار دمضمون او موضوع په لحاظ دطبیعت لهمظاهرو او بشری فطرت سره ډیر ارتباطلری.

دغه ځلمی شاعر یوازې له گل اوبلبل سره کارنلری دوطن له اغزوسره هم آشنا دی اودهیواد لهرګانی بوټی سره مینه او علاقه لری دده دځینو اشعارو عنوانونه لکه دغنمو و زی، څانګه، شنه پانه تیږه، خاوره ، اغزی منګی، چینه اوداسې نورد نورو په اشعارو کښی دغومره نه مومو .

فنا په دغسی موضوعاتو کښی ډیر سه نکات اومطالب پیدا کړی دی اواشعار بې اصلاحی رنګ لری ، ژبه یې ساده او روانه ده اوپه شعری پیرایه کښی ځینی اجتماعی معایبوته گوته نیسی مثلاً دپسرلی گل په خبرو راولی اوداپرې وایی:

چه غوټی و م له نسیمه شرمیږمه ✲ په څنو پانو کښی بلبل نه پټیږمه
دوز مې په تخنولو په خندا شوم ✲ د بلبل خوږو نغمو سره آشناشوم
. . . . . ✲ . . . . . .
کله ظلم ماله خپل بوټی جدا کړی ✲ په بازار کښی مې پیسو باندې سودا کړی
لکه بنګلې بنګلې پېغلی چه خرڅیږم ✲ زه انسان نه یم له ننګه مړاوی کیږم

✡ ✡ ✡ ✡ ✡

همدا رنګه د تیږې له سنګین عنوان لاندې چه ظاهراً شاعرانه عنوان نه معلومیږی خپل شعر په شاعرانه رنګ داسی شروع کوی :

«دخو بانو دزړه تشبیه له ماسره کړه ، دعدالت په تله کښې دکم او زیات مقیاس او معیار زه یم ، زمرد لعل اویاقوت زما نومونه دی، طلا اولاجورد زما په غیږ کښی ځای لری ، د وطن دخپلواکی په جګړه کښی د مجاهد ینو سنګر زه یم له مانه د عزم اوثبات کلك درس واخله، دهرې مانۍ او ودانی تهداب زه یم او ددنیالوړې مانۍ اوښکلې بنګلې په ماباندې ټینګې ولاړې دی»

له دغې لندې تبصرې نه بنائی د بناغلی فنا دشعر رنګ او ډول څه نه څه معلوم شوی وی، زه دغه اشعار دقدر وړ بولم اوپه نښه سترګه ورته ګورم.

۳۸/۸/۱۴ گل پاچا «الفت»

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبناغلی «بېنوا» تقریظ

دفنا پسرلی مې وکوت ، خو دادهغه فناپسرلی نه دی چه پسرلی یې د بقا
خزان وی، بلکه له دې پسرلی څخه پخپله دبقابوی پورته کیږی .
زه د فنا شاعرانه جذ باتو ته په درنه ستر که گورم، خصوصاً دده ساده او
روان سبك دستایلو وړدی .

هیله ده چه دده داپسرلی به خزان و نه لری او پرله پسې به رنگارنگ گلونه
دده طبع په بن کې په غوړیدووی ، چه د ذوق دخاوندانو دماغونه معطر کړی، اوداهغه
وخت کیدای شی چه دی په خپله دښکلا په تماشو کی فناشی لکه چه پخپله وایی:

«فنا» شوی د ښکلا په تما شویم
ماجار کړی ستاله مخ نه دی هزار بن

۳۸/۷/۱۹ عبدالرؤف «بینوا»

★ ★
★

دښاغلی «ربښتين» تقريظ

دشاعر دپسرلی له نندارې څخه مې پوره خوند واخيست، ددې پسرلی غوټی
ړومبی په حمد او ثنا او بيا دعشق په ستا ينه خو له پرانستې ده. په دې پسرلی
کښی رنګارنګ ګلونه غوړيدلیدلی او هرراز وزمې پکښی چلپدلی دی.

په دی ګلونو کښی يو خوږ بوی پروت دی ؛ چه دهرچا زړونه پرې تازه کيږی
په دی پسرلی کښی په مزه مزه دبلبل نغمې، دتوتيانو سندرې دسيند څپو شور
د شپونکی دشپيلی سوزناکې چيغې اوربدل کيږی.

ددې پسرلی دسحر په نسيم مخ پټی غوټی غوړيږی، د دې پسرلی باد
دخوارانو پيغامونه شته منوته رسوی:

دخوارانو پيغامونه را سره دی ★ رسوم ئی د بډای عشرت سرای ته
غرض داچه دشاعر په پسرلی کښی دژوندانه ډېر رازونه اوخوندونه شته دی.

لکه بوی چه دګل په پاڼه کښې پټ دی دغسې فنا هم په خپلو اشعارو کښې
ځان ننښتی دی خوده دروانې اونازولې نرمې طبعې پلوشې پکښې غلی غلی ځليږی.

داسېښکاری چه فنا دزړه په فتوه شعر وايی اودزړه دخا وندانو دپاره يې وايی
نو ځکه په زړه کښی لار پيدا کوی زه پوره هيله لرم چه دا ځلمی شاعر به نور هم دشعر
پسرلی ښايسته کاندی او دشعر دباغ وبن ګلانو ته به نوره تازګی هم وبښی.

۳۸/۱۰/۱۳ صديق الله «ربښتين»

★ ★
★

د شاعر پسرلی

یا نوی گل

لکه څرنګه چه په ناغوړ بدلی غوټی کښې رنګ او بوی پټ دی همداسې په هر زړه کښې ډېرې نیمګړې آرزو ګانې ا و نیمه خوا ارمانونه شته .

او لکه څرنګه چه د وزمې په سحر د غوټی د مخ حجاب او پرده لکه د شاپیرې نوپه قلمرو کښې د زړو طلسم په څېرمات او بېرته شی، همداسې د الهام د جذبې او د دردونو د سوزو ګدا ز په واسطه د شاعر د باطنی آرزوګانو اومفکورې له مخې پرده لېرې کیږی او دشعر په ژبه دده د آرزوګانو معما تفسیر پیږی د شاعر د زخمی زړه د داغونو په ګلخانه کښې د ننه د آرزوګانو غوټی هم وده وکړه ، دا غوټی خو څکه د مجهولو او مرموزو آرزو ګانو معما ده چه د یوه رنځور شاعر د درد مند اوغمناك ژوند خزان کښې د آه او ا وسپلیو د نسیم په چلېد و د نوی ګل پشان غوړېدلی او د ځلمیتوب په تودو وینواو او ښکو اوبه شوې ده .

دا نوی ګل معنوی ګل ذی . د دې ګل بلبل شاعر، باغ د شاعر زړه اومالیار د شاعر پاکې آرزوګانې دی .

که څه هم دا ګل ظاهری رنګ وبوی ا و د صورت سنګا ر نلر ی خود سیرت بنکلا اوعطر پکښې شته .

د دې ګل تنکی پاڼه ظاهراً د بنکلو ناز کو بار خوګانو پشان رنګینه ده خو په باطن کښې د درد مند شاعر دزړې ښې اود بېوزلوخوارانو دابتروځېرو او د یتیمانودځېږو ځپلومخونو هنداره ده .

دا ګل کله کله د شړشم دګلو پشان د بېوزلوتیارې خونې روڼې کوی یادشهیدقبر سر ته دلاله د څراغ په څېرسوزی .

او کله کله دا ګلان د جنتی شانتې هېواد دوچو میرواو دښتونود تورو خاورو په غېږ کښې، د لاجورد دتك شین آسمان دلاندې د زمردو په شنو شنو چمنونو کښې د سرو زرو د زړو وګلونو په رنګ یا د لعل او یا قوت دغا ټول پشان را شنه کېږی اودنا پوهی اوبېکاری او یا د بېوسیلګی په تورتم کښې زمونږد حیات په اوبو وده کوی .

هوا د دې نوی ګل معجزه خو داده چه که څه هم یو ګل دی خو ډېر رنګونه

لری، ددې ګل درنګونولیدل اویا اودبوی اوعطردکیفیت اوماهیت کشفول اوبوټیول ډېره باریکه نازولې قریحه اوحقیقی بصیرت غواړی اوکه نه ډېرممکن دی چه داګل لکه د وچو میرودمغیلان پشان سترګو ته دا غزی په څېر ودرپېژی .

د ددې معنوی ګل په هنداره کښې د شاعر د حقیقی هدف مقصد او مرام څېره اود افکارو خیالونو ، اندېښنو او تصوراتو تصویرله ورایه معلومېږی پردې ګل باندې دپسرلی باران اوزلی، دخزان طوفانی بادونه اودزمی دو اوړو یخنی څه اغېزه نشې کولای .

لېکه چه د ددې معنوی ګل تازګی اوطراوت د ذوقو نو د سمسورتیا ، د افکارو د طراوت او د دماغونو د تازګی پورې تړلی د ی .

یواځې ا و یواځې هغه وخت چه د زړو افکارو خزان پرې راشی او یاد مړاوو احساساتواومړوذوقونوساړه بادونه پرې ولګېږی نومړاوی اوبیاپاڼې پاڼې شی .

او دا هغه وخت د ی چه د شاعر د رنګینو ګـلانو ځینې ډک د اشعارو دیوان د زماني دګلچین لاس ته ولوېږی ، پاڼې پاڼې وشکېږی اولکه زېړې وچې پاڼې د مړو ذوقونو دګلخن په انګارکښې وسوزېږی او لکه څرنګه چه د مادې او ژوند سرنوشت دې محو اوفنا شی .

هوا! دا ګل درنځورې ځوانی او د دردمند ځلمیتوب د پسرلی اوشاعرانه ژوند یونوی ګل دی چه دپرېشانو افکارو په بن اودرنګینو خیالونو په ګلشن کښې غوړېدلی دی اوپه همدې یوګل د شاعر د تخیل دنیا پسرلی شوی دی .

هوا! دا پسرلی د شاعر پسرلی دی ، او د شاعر پسرلی ځانته یوه عجیبه دنیا لری له دې کبله چه د شاعرانو د تخیل او تفکر ډول سره توپیرلری نو پسرلی هم هر شاعر ته په مخصوص رنګ ځان ورښیی او هر شاعر پسرلی ته د خپل ذوق اوقریحې په سترګه ګوری .

دیوه شاعر د عشق اومینې په دنیا کښې هم د حسن ګلشنونه ، د بنګلا چمنونه اودبنایست ګلزارونه شته .

د سرو شونډو او غوټې چه د خندا په نسیم و غوړېږی ، د تورو سترګو نرګس چه د بهار ی په خمار سره شی ، د جـګو د نـګونښتری قـامتـو نـو د ناز رفتار چه قیامتونه او محشرونه را ولی د سپینې سینې په باغچه کښې چه انارګل نیسی ، په سورګلالی مخ باندې چه د تور خط سبزه را خپېږی ، د ناز نازیو چه د شاعر دماغ معطروی اومستوی ، د پیکی اوخال دام ودانه چه

زړونه ښکاروی‌دا ټول دحسن‌ا وښکلاپه جهان‌کښې دشاعردعشق‌پسرلی‌تمثیلوی
کله چه د مینې مستې پېغلې فرشتې په اوربل یا زلفو کښې زېړ گل و ټومبی
نودمین شاعر د بخت اوطالع ستوری وځلېږی اود نا کامې مینې دبیلتانه په
تیرو شپو کښې یې ډیوه ولېګېږی اودمینې دا رڼا د ده پرسرد سرو‌زرو خیالی
تاج زدی .

خود بل شاعر په نظرکښې بیا د شاعر پسرلی‌د حسن اوښکلا دپسرلی نه‌هم ډېر
لوړ او اوچت دی ، دا ځکه چه حسن اوجمال خزان‌لری او شاعر نه غواړی
چه د ده شعر دې هم خزان‌ولری .

د دې آرزو داده چه د شعر پسرلی دې تل پسرلی و ی.

نوددې شاعردپسرلی د بڼ دونوښکلې‌خانګې په ژمې کښې هم شکوفه‌کو ی او
د خزانی وچوپاڼو تویېدل یې هم د زېړو‌ګلونو جوړ باغ دی .

نو ځکه دا شاعر د خط وخال د توصیف لاره پریښې ده او داجتماعی‌نیمګړتیاو
د اصلاح د پاره د تنقید په لارروان دی او غواړی چه :

فرد و و ایی د جامعې د پاره ا و نن شعر و وایی هغه هم د صبا د پا ر ه .
هوا د دی نـوی پسـرلی نو ی ګل د نوی عصر د نوی ځلمی‌شا عرنوی شعر
د ی . هغه شاعر چه د طبیعت د ښکلی پسرلی دجمال او ښایست په ننداره‌ټون
کښې لږ شانتې د تخیل ا و تفکر پرده بېرته‌کړېده او ډېرې رنګینې ښدارې
او صحنې یې لیدلی دی .

خو بیا هم د ده نظر د طبیعی مظـاهر و په ظاهری خط و خا ل ا و ښـکلا
ندی غو لېد لی ، له ظواهرونه یو څه ورانديې د طبیعت د عنا صر و دباطنی
کیفیا تو ا و خواصو د ادراك فلسفې ته و ر نژدې او سَه ځیر اوژور شویدی
دشاعرانه اندېښنو اوتعقل‌دمنطق په‌اساس‌یې د ځینوعناصرو دحال دژبې نطق او
خبرو ته غوږ نیولی ا و د دوی سره غبږېد لی اوراز و نیاز یې کړی د ی .
دلته د شاعر نازولی خیال د بودې په ټال کښې د زېړو ، سرو ، شنواوسپینو
بناپېریوسره زانګی .

شاعر چه‌کله وګوری لمریا سپوږمی د تورو وریځو په څادرکښې مخ نغښتی
دی نوهله د باران د ژړا په معنی پوه شی اوځمان غلی کړی ..

هو د شا عر د خیالونو په آسمان کښې د اندېښنو خړې وریځې شته خو د بنه
صورت‌د حجاب په څېرننګین‌سیرتونه ورلاندی ندی پټ شوی ، کومې څاڅکې

چه لدې وړېځو نه اوړېزی هغه د درد نیمه خوا او پاکې اوښکې دی .
دلـتـه د آب یـو څاڅکی له در ،گوهر اومرغلرونه اود آبرو آب حیات له الماسونه هم ډېر گران دی

هو ! شاعر ته ژړا، آبرو ، دحیا خولـې اود ژوند او به د څاڅکو په پیاله کښې ، ځـان وربښیی او د شفق په هنداره کښې دنا پاکور نگینو لمنو تماشا او دبېگناهووینو دطوفان ننداره کوی.

د شاعر د وړېځو اوڅاڅکو په کنایه او استعاره کښې معنی بې پردې اوبې آبه شوې نده .

د شاعر د پسرلـی تـا لـندې د آسمـانونود (سا ، رې ، گـه،مه ،په،ده نی) پهاوو پردوکښې دژوند زیراوبم ساز غږوی

ددې پسرلی برېښنا چه د مثبت او منفی نه پیدا ده دنراوښځی داشتراك مساعی گټور زېری دېوې روښانې آیندې د افق په سرلیك کښې پهسر وزرو لیکی .

هوا داد شاعر شعر دی چه د پاك خدای د قدرتو نود پېژندلواوښودلو د پاره شنه پاڼه د ثنا اوصفت د ژبې په نامه ستایی .

دا یواځې شاعر دی چه دېلبل په ژبه پوهېږی او د بلبل د خوږو نغمو او سندرو داسې تفسیر کوی چه پهگلرخانو کښې وفا او په پسرلی کښې بقانشته خونههغهشاعر چه د غوړمالی اومداحی تراني ووایی

شاعرخوځکه اغزی ته په ښو ستر گو گوری چه خنجراو نښتر یې په لاس کښې نیولی دی او دښکلو گلرخانو اونازولو خوبانو په خاطردگلرنگین او ښکلی مخ لهناپاك او بدنظر نه ساتی.

هو د دې شاعر د پسرلی اغزی د بېوزلو په لو څو پښو کښې نه چوخېږی .
د دام او داني ماجرا شاعرته درشوت خورواو خاینانوگرفتاری اود ظالمانو غرغره کول ورپه یادوی .

د شاعر د پسرلی په دام کښې دریا د تسبوپشان سپینې کوترې نه کښېوزیاو د چال وفریب په لومه کښې د مرغی پځای انسان نهگیرېږی .

کله چه دلمر دزرینو و ړانکو په تاو کښې شبنم د گل له پاڼې نه هوا کوی ده ته په گلالیو مخونو باندې دشرم و حیاد خولو دانې او یـا د سرخ رویو کسانو بې آبی ور په زړه کېږی.

هو دشاعرخمخانه اومیخانهدانگورودانه ده

شاعر دپسرلی په‌مکتب کښې دسپینو روڼو او بونه دصفا او حرکت سبق او د شین زرغون بڼ په مدرسه کښې دسروی له وڼې نه د ثبات استقامت او د راستی درس اخلی او پوهیږی چه‌دراستی ثمر تل زرغون دی.

دفواړې ساز دمدو جزر په زیروبم کښې حساس شاعر ته دعروج او زوال دترقی او تنزل د وجود او دعدم د ژوند او مرګ پند او عبرت ورکوی درد‌پدلی شاعرتش دآبشار د منظرې په شکلا نه‌غولیږی.

ده ته د دې منظرې په لیدلو د یتیمانو ژړا او د مظلومانو انګولاورپه‌یاد‌پیږی د شاعر تیز نظر دپنبې په غوز کښې د سپین سروکنډوښځو خرخه د غریبانو د خامتا اودمړو د کفن کارګاه لیدلای شی.

د سیندد اوبو چپې د شاعر په غوز کښې دوچو میرو سندرې وایې. خا نګه د شا عر د شعر په ژبه انسا نانو ته وایی چه : ز ه مړوه لر م او د خوارانوغریبانو د پاره د طبیعت د تعاون‌اومرستې لاس‌یم اې بډایا نو تاسو هم خوارانو او له پښولوپدلوته د مرستې لاس ورکړئ او اې ظا لمانو اوزورورو په ضعیفانو اوناتوانو باندې دآزار لاس مه پورته کوئ.

خوارشاعر وچې‌خانګې ته ځکه په ټوده مینه‌ګوری چه په ژمی کښې دخوارانو سړې کوټې تودوی.

د شاعر په نظر کښې هربوټی او خنډو خاردکاروز یاراودلوړهمت د سیورې لاندی کیمیا بوټی دی.

د تمباکو د پاڼې د حال په ژبه یواځې‌شاعر پوهیږی چه‌وایی:

د پیسو سوزول زما چال او سره زر په ایروبدلول زما کمال دی.

کله چه آزاد شاعر په قفس‌کښې دبندی توتی ، اسیر مارغه اوګرفتار بلبل‌او یا د انسانی عاطفې په لاس‌کښې دبنده شوې زرکې او کوترې غمجنې نغمې او په انسانی رحم‌باندې دنفرین‌استولودردناکې ترانې واوری هلته بیا دصیادانو د خم او چم په لیدلو د استعماری شوم سیاست د چال وفریب د خاطرو په فکر ولوپیږی.

اوکله چه په بازار کښې درنګینو د ستودستوګلانو خرڅول د شاعر په ستړګو کښې د غزیو په څېر چوخ شی بیانود شکلو رنګینوپېغلود خرڅو لوپه سودا ګلچین لاس ورته د خونخوارو ظالمانو درنګینو منګلو پشان سورښکاری

(c) ketabton.com: The Digital Library.

﴿ی﴾

هوا
شاعرته د طبیعت د پسرلی د عناصر و سره د رازو نیازپه پا ی کښې دا پته ولګهېزی چه ځرنګه نبات او حیوان د بشر په انسانی نیمګړ تیا ؤ با ند پ استهزاء مسخرې‌او لوبې‌کوی .
بیا نو حساس او درد مند شاعر په دې هم قانع شی چه بنایی داجتماع‌بن‌دې د لور ا و رمبی په ځا ی کله کله په برچه هم خپشاوه شی ، د ظلم د بوټی بیخ او ریښه دې ر ا وایستل شی ، دوطن دپرمختګ او نوضت لاردې‌د مضرو نباتاتو له خنډو خاره پاك اونوی ګلان او نیالګی دې وروزل شی .
اوف !
د شاعر تخیل هم د ډېر ولوړو الوتنو په پای کښې ستړی ستومانه شی .
شاعر هم دتفکراو اندېښنوله‌فضانه د خپلواشعار و دپسرلی‌بن ته راښکته شی.
هو د ده د شعر په بن کښې د پسرلی ښکلې پېغلې د نوی‌کال د ځلمی سره ودېږی ، او د خوشحالی په دې محفل کښې بلبل سندرې ، کوتره نغمې‌توتی بدلې ، زرك چاربیتې ، پاختکه غزلې او قمری خوزې خوزې مسرې وایی .
د باد د سندرو دزیراو بم د سرو ټال سره ځانګې او پاڼی چك چکې کوی اوسروه په چمن کښې ناڅی .
آه !
که څه هم د درد مند شا عر د زړه ارمان دا بټکاری شعر دبکرې پېغلې سره غاړه غړی کېدل و .
خو افسوس چه دا وصل ور میسر نه شو اوبیا هم د طبیعت د ښکلا اودا سرارو اورما یزو د تو صیف نه عاجز راغی .
او د دې عجیب وغریب پسرلی دسحرجن بن‌اودشعر و ادب له ګلزارنه‌یې تش یوڅو خیالی وزی او معنوی ګلا ن او یو څه خنډ و خار را ټول کړه او بس چه‌ګوندې هغه به هم د دې مادی زمانې په‌بازارکښې څه ادبی‌قیمت او معنوی ورزښت ونلری .

محمدجان «فنا» صافی

بسم الله الرحمن الرحيم

پیل

ستا په‌نوم چه هم رحمن اوهم‌رحیم ئې
هم اول آخر او هم قدیم حکیم ئې
له رجیم شیطان نه امن پناه غواړم
زما د هېره ګناه کمه ته عظیم ئې

✿ ✿
✿

عشق

عشق د مینې او زښتیا و فا جوهر دی
د اخلاص او قربانی ایثار هنر دی
دزړه نور د روح آواز د ژوند ثمر دی
دا الهام د خولی اقرار د زړه باور دی

کائنات

په ډېر ځیرو کړه د یدار د کائناتو
ځان لږ پوه کړه په اسرار د کائناتو

دهر چا قسمت تقدیر دی ټاکل شوی
لسوی څښتن لسری اختیار د کائناتو

تحول د شپې او ورځ دده په حکم
د خالق ر ضا مد ا ر د کائناتو

دی حاکم د حکومت د ټول عالم دی
مناسب و ر ته در بار د کائناتو

دا نړۍ ده جوړه شوې ډېرم ښکلې
په صنعت د کر د گا ر د کائناتو

محبت به درنه هېر شی د خوبانو
که دې و لیده سنگا ر د کائناتو

یو نظر و کړه چمن گلشن بېد یاته
څه ښا یست لری بهها ر د کائناتو

په دښتو نو کښې اغزی بن کښې گلان دی
غم او عیش د ی په کنار د کائناتو

د لید و او اند ښنو د پاره و ړ دی
لا له زار ا و خاره ز ا ر د کائناتو

ښه ورځ ر شه چه په څه حکمت جوړ شوی
د قدرت په لا س اشجار د کائناتو

پسرلې شی او بیا دوبی منی ژ می
یو گړی نشته قرار د کائناتو

گله باد شی یا طوفان د سېلا ؤ نو
د ا او به خا و ر ې غبار د کائناتو

کله واوره ا و باران کله زلـی شي
را او ریـزی پـه خـپل وار دکائناتو

ټول انسان حیوان نبات پکښې شامل دی
نـامعلوم دی ټـو ل مقدار دکائناتو

که دیوان دی که ملک که جن پری ده
ټـول شامـل د ی پـه قطار دکائناتو

د مرغانو آوازو نوته غوږ کښیږ ده
ډ کـک لـه کیفه مـر غـزار دکائناتو

ته د لمر ا ودسپوږمی رڼا ته ګوره
مـنـور شـه پـه ا نـوار دکائناتو

لعل یا قوت اوزمرد دخاورو لاندې
عـجـایـب دی بـې شمـا ر دکائناتو

د ثـبـات استقامـت عـزم ټینګوالـی
و ا خله درس لـه کوهسار دکائناتو

په دوران کښې بې نقصان او کمی نشته
تـل مـدام جاری دی کا ر دکائناتو

ښه ئې بشکـلو منظروتـه نظر و کړه
روح تازه کړه پـه د یدار دکائناتو

کوم صفت چه ورته ورې او مناسب وی
څوک یې نشی کړی اظهار دکائناتو

پـه لـکولـکو پردې د تماشې و ړ
نندار تو ن د ی پـه هـزار دکائناتو

د قدرت په نندارو کښې (فنا) شوی
زه مین یـم پـه د لـدار ن کائناتو

د تالندې کوکار

پـای دزمـې د بهار د ژوند آغـاز یم
تـرانه د مرګ اوژونـد نشیب فراز یم
چـه را وړی مې پیغام د نو ی کال دی
نـو قـاصد د نوی ژوند او نوی راز یم
د نبات او دانسان حیوان په غـوږ کښې
یو کومـه د ژ و نـد ساغیبی آواز یم
مړاوې ځمکې ته چه نغښتې ده کفن کښې
غږوم د ژونـد ربـاب مـاهر شهباز یم
ساړې ګه مه یه د ه نی مې آسمانـونـه
داو وپـرد و عجب زیـر و بـم سـاز یم
زه غږ پـرزم د (فنا) د زړه پـر دو کښې
ما د زړه په غوږو واوره چه اعجاز یم

د پسرلی ناوې

نو ی کال نوې هوانوی بهار دی
نوی ژوند نوی جنبش نوی روزګاردی
چه هیواد موهم ودان او هم سمسورشی
وخت د ګښت او بزګری او نوی کاردی
نوې سا په طبیعت کښې را پیدا شوه
ژوندی شوی په قدرت د ګر دګاردی

دشنو پانو په د فتر کښې لیکل شوی
کائناتو کښې دخدائی قدرت آشکاردی
چه نسیم په چلېد و شو هرې خواته
له هوسه پـه نخا و ر ته څنا ر دی
د سپین زر پشان و یالې اویونه ډکې
په نارو په چیغېد و روان آ بشاردی
د څپو اود مو جـو پـه خـوزه ژبـه
په توصیف دپسرلی کښې سیند اقراردی
یاسمن لمن لمن چمن خوشبوی کړو
معطره د ګلشن د ر و د یو ا ر دی
د کا کـل پشان چه وغوړېد سنبل بیا
بې قیمته مشک دچین او د تاتاردی
نازبو بیا په نخر و چمن تـه را غله
بیا مشغو له نسترن پخپل سینګاردی
سروه بیا دپسرلی بیرغ را چک کړو
د ګلا نو هره خوا کښې تودبازار دی
آسمان شین دی لاجوردغوندې روښانه
لمن ډ که په لا له د کـو هسار د ی
شرو شور نه قیامت جو ړ که مرغانو
له مرغانو ځینې ډک چه مرغزاردی
د پا ختکو او کوترو کاروان راغی
د کار غانو خپل ملکو ځینې فراردی
قمری جوړه کړه په سروه کښې بیاجاله
په دښتو نو کښې بیازرک په نازرفتاردی
هنګا مې د محبت تـازه تـازه شو ې
بلبل بیاپه شور فریاداو په چیغاردی

دچمن بوټی طاؤس غوندې ښایسته شول
شین توتی په شنو باغونکښې په ګفتاردی
تورو خاورونه راشنه شول سره ګلان بیا
سور ګلاب دتور بورا دمینې یاری دی
توبې ټاټې کړه چه وخت دعیش ونوش شو
ساقی راکړه خدوپیالې چه نوبهار دی
پرځه بیا دګل ګلاب کړه مېلمه شوه
لکه ډوب چه په خولو دیار رخساردی
شکوفې د غوړېد و خادر په سر کړو
په غاړه ورته ځلمی د شا خسار دی
د غوټې نجونې شوې ناوې د بلبلو
خو د ټولو زړو نه بیا ز خمی په خاردی
د چمن پېغله د باغ ځلمی واده شول
پهر ځای کښې دخوښی مجلس روی کاردی
ملکه د عطرو بوی چمن ته راغله
شاهنشاه د پسرلی کړی دربار دی
بیا تازه شو د لا له د ځګر زخم
د مین د زړه شا هد ګل د ا نا ر دی
د ر بنتین عشق ګاروانو نه خو ځېدلی
ا و د شمعې د لمبو نه پتنګ جا ر دی
را روانه قا فله شوه د ا رمان بیا
روح تازه دچمنونو په دیدار دی
په ذوقونو کښې مستی ګرمی پیدا شوه
دګل بوی وړی هرچا ځینې اختیار دی
غوړېدلی دی غوټې د شعر په بن کښې
بیا مې زړه له جوش خروشه بېقراردی

د نړۍ په دې بهار او نوی ژوند کښې
د (فنا) قسمت د مینې افتخاری دی

بربښنا

زه د تورو ورېځو شپه کښې ښه رڼا یم
د تنبلو ګمراهانو رهنمایم
مترو که یمه داور د سرعت لاس کښې
زه ځنبش او حرکت غواړم برېښنایم
وګړه کار چه پسرلی غوندې زرغون شې
د روښانې آیندې یوه ځلایم
په هر ځای کښې غم بنادی سره شریك وی
باران ژاړی زه د سرو شونډو خندایم
ځلمو پېغلو سره یو شیء په هر کار کښې
ګورۍ زه هم له منفی مثبت پیدایم
یوپر خون آه د شاعر له سوی زړه نه
یوه څړیکه د درد مند شعر ذ نوایم
د پښتو شعر د افق په سرلوحه کښې
زه به ولیکم په سرو زرو (فنا) یم



د تـــو تکـــی شـــور

غاړه مې سره ده خو خوندا ره نه يم
سينه مې سپينه ريا کاره نه يم
زه تور او سپين او سره رنګونه لرم
د و ر نګی نلرم مکا ر ه نه يم
که څه هم زياتې لرم تورې ښې
خوزړه مې سپين دی ګنهګاره نه يم
لکۍ مې دوه تاره ده ځير شه ورته
زه تش ګفتار او بی کر داره نه يم
ما چه پيغام د نوې کال را وړی
نو د زوړ فکر طر فداره نه يم
زه انسان نه يم هم جنس نه ځوروم
(فنا) ظا لمه ستمکا ر ه نه يم

نیالگی

د صبا بنه غټه و نه نن نیا لګی یم
ز ه که نن یمه ما شوم صبا ځلمی یم

ز ه به‌ستا دلاس امسا شمه یووخت کښې
ما ته مه ګو ر ه په کمه‌که کمکی یم

تر بیې نه مې یورپ هم غافل نشې
که‌نه ستر ګو کښې‌د ګل‌پڅای‌اغزی یم

که له ما نه ثمر غواړې و مې ر و ز ه
پ ورش که مې و نشی وچ لرګی یم

بې آبی نه‌مې بنه سا ته‌چه و چېز م
که‌مې آب (فنا) په ځای ونو سړی یم

دوربخ ژړا

کله پر د ه شم دقمر په مخ کښې
کله خادر یمه د لمر په مخ کښې
یا مشتری ته جوړ نقاب شمه زه
یا دزهرې دمخ حجاب شمه زه
تالندې ورشه دا طلسم که مات
تورتم نه و با سه ا و به د حیا ت
برېښنا ، دغرونو بنا پیر ی ته وایه
دتورو شپو سپینې سپوږمی ته وایه
دابه ترڅوپې په تورتم کښې دوبه
دموجوداتو په عدم کښې دوبه
نوی بهار نوی نهضت نوی ژوند
نوی جهان نوی ارمان نوی خو ند
پلوکه لېرې چه رڼا شی جهان
محوه داستا په تما شی جهان
دابارا ن نه د ی چه پر تا ر ا ځی
(فنا) ته ستا په حال ژړا را ځی

خاخکی

او رېد لی د غمو نو له آ سما ن یم
د یتیم د تو دو او بنکو تر جمان یم
نورو خا څکو سره کله‌چه‌یوځا ی شم
رانه‌جوړشی‌لوی‌درياب‌سېلاب طوفان‌یم
زه‌په‌خوله دمچمچی کښې‌خوږ ګبین‌یم
خودمرګ ټکی‌په خولود بنا ماران یم
شی سمسور هرهغه‌ځای ته چه رسېږم
جل و هلو ته دژوند دوا در ما ن یم
دصدف غېږ ته چه و ر سېږ م د ر شم
که دتیږی زړه ته ورشم‌لعل مرجان‌یم
خوږ شربت یم دخوږو په‌پیمانه کښې
خو دزهرو سره جوړ دمرګ اعلان‌یم
زوړ خمار یم د شرا بو په پیا له کښې
په رنګین مخ دخولو دناز با ر ا ن یم
د نا کسو لپه ر خسا ر ه څخېد لی
زه دشرم او د حیا ا و بو پشـا ن یم
آ بر و مندو سر ه ټکی د آ بر و یم
له ا لما سه د (فنا) نظر کښې‌ګران یم


د بوډې ټال

د طاؤس پشان رنګین دبوډې ټال یم
دجمال آسمان کښې زه بشکلی هلا ل یم
لوړ درشل زه د بنایست دنو بهار یم
دبهار د بشکلي ناوې بشکلی هاریم
زه رنګینه بنه تا بلو دطبیعت یم
یو شهکار اعلی تصویر دحقیقت یم
یا د مخکی بشکلي پېغلې ته پیزوان شم
یا دګلو غاړکی زه دآسمان شم
دلمر وړانګې ز ما غشی زه کمان یم
دژړا تفسیر د اوښکو ترجمان یم
دمرکز ټکی دانه محیط مې دام دی
بښکار مې زړه دمهرویانو خاص وعام د ی
اتحاد او همر نګی دلمر رڼا کړم
تجزیه دباران څاڅکی اورسوا کړم
دژړا باران چه توی دمخ په لمر شی
بوډې ټال دیار په وروڅو کښې تر سرشی
ښاپیرۍ زېړې اوشني یاسرې اوسپینې
ماکښې ټال خوری فرشتې او ناز نینې
نارنجی ، تور اوآبی زیړشین اوسپین یم
ذ(ڤنا) ګلابی شعر غوندې رنګین یم

د شپونکی شپیلی



زه یم شپون اوپه‌دې ژوند مې افتخار دی
چه‌د خدای نبیانو کړی زما کار دی
زه لرم بنایسته پسونه وری او میږې
شنه وابنه اغزی او بوټی مې گلزار دی
زه د جگو غروڼو سر کښې ر مې پیا یم
له پستې او ټیټ ژوندون نه زما عار دی
د تمام جهان شاهی به پرې ورنکړم
زما کور او زما گور همدا کوهسار دی
زه څښتن د لوړ همت یم پروانه کا
چه د تن جامې شکېدلی نس مې خواردی
پسونه وری او میږې ساتم له‌لېوانو
تنفرمې له‌ظالم‌اوله خونخوار دی
د حیوان خدمت کوم چه لوړ انسان یم
گوره رحم عا طفه زما شهکا ر د ی
غږومه د(فنا) خوږې نغمې زه
چه شپیلی مې خورا دېرشیرین گفتار دی



د شفق سره خبرې

دسرو شونډ وخولګی غواړي په غاړې کښې
سره لا سونه دې تا و شو ی له ګردن بیا

له هېڅا سره-وفا د دنیا نشته
د ګرد و ن له لا سه مه شه ګله من بیا

د صبا په هنداره کښې د ې بنودلی
د هېوا د د شهیدا نو سو ر کفن بیا

د سحر ستوری به ستا د داغ شاهد و ی
بې ګنا ه خون د ې لیدلی یې غمجن بیا

دا د کو م دا ړې شبخون دی په تا شوی
که د ې لار د شپې نیولی کو م رهزن بیا

تا نا مو س د ز ما نې ا بتر لید لی
د ه په سر و و ینو رنګینه ستا لمن بیا


د فلك چه زړ ګی شین دی (فنا) پو ه شه
راضی شوی دی د کو م خوار په کشتن بیا





مېزی څه وایی.

مخلوقا تو کښې یو ډېر ضعیف حیوان یم
په قوت کښې زه د ټولو قهرما ن یم
کائنات دی اوس ځلمي سپین زیری کېږ ی
زه شا هد د پسرلي ژمی خزان یم
رسېد لی ماته ډېرقوی همت دی
پروانه کا چه ظا هر کښې خوا رنا توا ن یم
آذوقه مې ټولومه لور په لو ر ې
ټینګ ثبات عزم لرم دا ډه په ځا ن یم
خوښ مې ندی بې مو قع راحت عیشونه
ځکه تل مدا م د کار پسی روان یم
لوی نظام او حکو مت لرمه ځانته
زه یو غړی د لو ی کور او خاندان یم
متحد چه و ی ملت نه خرا پېږی
زه د دغې مفکور ې بنه امتحان یم





دهپواد پسرلی

پسرلی راغی او شین بن او بوستان شو
گل گلزار ټوله دنیا تمام جهان شو
نوی کال نوی ژوندون نوی بهار دی
وخت دهاندزحمت او کاردهردهقان شو

خبر راغی د وزمې په لاس چمن ته
چه د عیش اود خوښۍ کاروان روان شو

پسرلی شو په بنا رونو کښې د زړو نو
حکومت د عشق ا و مینې بیا اعلان شو

د چمن شا ځلمی با غ کښې دربارو کړو
د بهار په سلطنت کښې بیا سلطان شو

د جمال قدرت هنداره د بهار کښې
ننداره د طبیعت بنکاره عیان شو

پسرلی ته د شا عر په نظر گورم
زما عقل دې بنایست لره حیران شو

تخیل او فکر والوتل دیدن له
په نندارو تازه روح دهر انسان شو

جمع جوش دیدد یارانو هره خواکښې
د مېلو او د عیشونو بیا د و ران شو

بیا کاروان در نګ او بوی ګلشن ته راغی
هره خوا کښې د ګلانو موج طوفان شو

قافلې د خو شبویی شولې روانې
بیا له عطر ولحینی ډک چمن بوستان شو

سم اوغر بیاپه خود روګلان بنایسته شول
بن بنایسته په ډول سینګار لکه خوبان شو

چه له خاورونه راخېزی رنګ په رنګ ګل
د حیات اویو په خپرورته باران شو

د غره غېږ کښې ارغوان دی پر پوتلی
د بښت او غږ دز مرد سره یک سان شو

لکه لعل د غره لمن کښې لاله بر بنبی
لاجورد غوندې بنایسته اوشین آسمان شو

چه مې وصل د جانان میسر ندی
بیا زما زړګی زخمی غاټول پشان شو

دا د یار په مخ خولې دی که شبنم دی
که پیاله کښې دلاله آب حیوان شو

تو ر بو را د محبت له بر کته
په ګلشن کښې د مرغانو قهرمان شو

په شئه سره کښې توتی جاله کړه جوړه
په توصیف د پسرلی کښې ثنا خوان شو

بیاپاختکه ناست پرځا نګه غزل وایی
او بلبل په شور فریاد او په فغا ن شو

په اوجره دفواري کښې سازوشر نګ دی
ترانو کښې د آبشارګويا ز بان شو

لورپه لورې دخوبنی سازونه موج شو ل
په غزل نغمو و يلو سيند روان شو

د شمال په نرۍ ساز کښې څنا ر ناڅی
آ و قمری ورته له شو قه غز لخوان شو

ټولې څانګې خوشحالی نه کړی چک چکې
هره خواکښې دښادی مجلس چالان شو

خاطرې مې د ليلی مجنون په يا د شوې
له وحشی ګلا نو ډ ک چه بيا با ن شو


شکوفه د څانګې غوږ ته ګوشواره شوه
نسترن په سپين څادر کښې بيا پنهان شو

نسيم واخيسته خو لګی بياله غوټی نه
د سنبل پېکی ز ما غو ندې پريشان شو

د بلبل سره غاړی ه شو ه د ګل څا نګه
د مينو بيا پو ر ه د ز ړ ه ا ر ما ن شو

ما په نظم د ګلا نو ا مېل جو ړ کړ
چه ګلا نو ځينې ډ ک ز ما ديوان شو

د بهار ا و د غا ټول شبنم صفت کښې
د (فنا) شعر بې ګمانه د ر مرجا ن شو



اې پغمانه



روح پرو ر ه ستا هوا ا و ستا فضا د ه
ستا خوږه وږمه رنځونو ته دواده
وطنو الوته مدام اوسې سمسوره
دا زما د زړه ارمان او تمنا ده
پسرلی دې د کابل ثانی جنت دی
د ګلانو خزانه دې بې بهاده
په طاؤس که دې تشبیه کړم بنکلی بوټی
د بلبلو په کښې شو ر او وا ویلاده
په درو کښې د ې د سپینو زرولښتې
ستا خوږې او به ژوندون ته میسحاده
نکړې نازو تغافل چا ل وفریب هیڅ
د هر چاسره د ې مینه په ربښتیا ده
اې پغمانه له ماښامه تر سحره
و هر چاته ستا د وصل شپه وړیا ده
چه یې سیوری کښې د عیش دولت حا صل شی
ګنږو څانګو کښې د ې جاله د هما ده
د خوبا نو په زړګی کښې غور ځنګونه
په آسمان کښې د ې د ستوروښه نڅاده

لکه ډ ك جام د شراب له نشو ډلے يې
تا کښې خوند د څوار لسمې شپې رڼا ده
لکه تاج يې د کابل پر سر لو پدلی
په هر گوټ کښې د ې د بنکلو ناز خندا ده
ته دبنکلوزړو کښې ځای لرې يغما نه
توره خاوره د ې د مينې کيميا ده
بناپېرې د هندوکش غېږ کښې پرته يې
چه ځلمی پېغله پر تا باندې شيدا ده
بنه مظهر ته د بنايسته جمال بنکلا يې
چه مينه ستا په حسن تما شا ده
ته دفتر د معرفت د لوی قدرت يې
هره تيزه دې شاعر ته يو دنيا ده
ستا په غېږ کښې ټول په عيش ونوش پراته دی
خو له ما سره د خوار غريب سودا ده
غېږ دې خوار غريب بډای د پاره خلاص دی
ته دردمند يې فوارو کښې د ې ژړاده
اې پغمانه ته هم راشه تما شې له
چه په خونه د غريب کښې څه غوغا ده
چه دری ته دې درځم خيبر رايادشی
خدايزو بن بوستا ن پرما ماتم سراده
د بنايست په نندار تون کښې مې ليدلی
بقا نه لری دنيا آخر (فنا) ده

بن

ګـلالـي شـود ګلانو په ګلزار بن
بنکـلی شوی دخوبـانـو په انوار بن
د ګـلانـو بـوټو څانګو پاڼو ونو
لری بنې بنې منظرې په هر کنار بن
د شید وغوند ې روانې او به سپینې
د الماس او درڤ طرې لری آبشار بن
بیا دزړې اوسپین ګلانوموج طوفان شو
هر طرف لری د سرو ګلو قطا ر بن
ترانو او زمزمو خـوږو نغمونه
بیا ډک شوی دمرغانوپه چیغار بن
دخوشبو ګلانو بوی چه ترسوزموشی
سلبو ی له هر یوچا ځینې اختیار بن
په غاړه ورځی دخانګوسره څانګې
چه رسږی پېغلتوب ته د ا نـار بـن
د ګـلا نو ا مېلو نه په لمـن کـښې
د خـوبـانو تما شوته ا نتظـا ر بـن
دلیدوشوق کښې به هر ګوره حیران شې
د قدرت په لاس بنایسته شود بهار بن
په جمال د طبیعت کښې محوه شوی
په ارمان د تما شو کـړمه د چار بن
نندارولره یې هر څوك هیله من دی
لری ځکه په زرګـونو خریدار بن
د خوبانو په جفاکښې ځګرخون شوم
په ګوګل کښې مې لر مه دا غدار بن

رنځېد لـــی مینـــا نو ته تســـل د ی
د زخمی زړګیو د اغ ته لاله زار بن
ګل د ګل له رویه رنګ اخلی ګلشن کښې
تازه کـــښې د خوبانو په د یدار بن
هر یو ګل به یې ضرور دزړه ټو ټې وی
د ګلرخ مالیار په لاس که شی تیا ر بن
چه مېلې شی دخوبانو په ګلشن کښې
روښـا نیږ ی د مخونـو په انوا ر بن
بل به نه وی داسې خوږ محفل ژوندون کښې
چه د مینې عیش او نازجوړشی دربار بن
د غو ټی زړګی به وچوی له حسرته
په خندا که مخا مخ شی د دلدار بن
ای زړ دلبرې که ته راشې تما شې له
په قدم کښې به دې و لوږی ناچار بن
په تعظیم به دې شمشادځنارو لاړشی
ستـادناز په تلوبه وکړ ی افتخار بن
د ګـلا نو ټو لې پا ڼې به شی تو یی
که د ناز په ستر ګوو ګوری دلدار بن
که څه هم لری خورار نګین ګلان د ډبر
کله ستا پشان لړ ی رنګین رخسار بن
تور بانه دې دنرګس په ګل مې وژنی
محبت را ته کـــرلی د ی د خُا ر بن
(فنا) شو ی د بنـــکلا په تما شو یم
ماجار کړی ستا له مخ نه دی هزار بن

★ ★ ★

ستړو

ړ ا ښو د لی طبیعت را ته هنر د ی
چه زرغونه د راستی مد ا م ثمردی
د اخلاص و فا ثبات چه په کښې نشته
جګ قامت کله قیامت کله محشر دی

چمن وایی



غوړولی چه مې شین بخمل څادر دی
هوا زګری مې خورانو ته بستر دی
لور په لوړی لرم سور او سپین اوزېر ګل
ز مرد لعل و مرجان ز ما زېور دی
چه سمسور ګل وګلزاریم پسرلی کښې
خا کساری او تواضع زما هنر دی
سکلو م به یې نازک بدن او پښې لاس
که په غېز کښې زما پروت بنایسته دلبر د ی
چه پایمال یم د خوبانو په قدم کښې
د خاین او ظالم سر مې تر نظر دی
باد راوړی د بېد یا دښت پیغامونه
یو (فنا) زما د زړه په درد خبر دی

د سحر نسیم ته

بلبلانو ته ګلا ن واړه خندان کړه
باغ اوراغ دخوشبویی سره یوشان کړه
د غوټی غوز ته د مینې ترانه شه
ورنه واخله صبر خیریې ګربوان کړه

چلبد وسره تازه کړه د چمن ګل
دعیسی دم شه ژوندی مخکه بوستان کړه
د ګلانو وزمې وچ ډا ګو ته یو سه
په شبنمو یې اوبه ته یې وڅان کړه
تا لید لی بهار و نه خزا نو نه
له خزانه د بنایست خبر خوبان کړه
ای قا صد ه د مجنون د قبر سر ته
په صحرا کښې دلاله څراغ روښان کړه
د تهانو تنبلا نو قلمرو کښې
د جنبش اوحرکت کاروان روان کړه
ته زوړ خیال او فکر وبا سه سرونه
د تازه تازه فکرونو جوړ طوفان کړه
مړاوی شوی رنځ بدلی روح تازه کړه
د دردمند وزړو نو درد اورنځ درمان کړه
غوټی و سپړه د زړونو ای نسیمه
په الفت او محبت یې بنه خندان کړه
رابیدار کړه وینې لحلمیان خوب د غفلت نه
په تازه فکر ددوی د ماغ روښان کړه
د عبرت درسونه ورکړه له تیر ژوند نه
نوی کال شو نوی ژوند او کار اعلان کړه
نا پوهانو ته د پوهې پیغا م یو سه
دوی خبر په ژوند او حال ددې جهان کړه
د خوا را نو احوال یوسه دولتمن ته
بې ایانو ته د دوی ژوندون بیا ن کړه
ستر ګې خلاصې کړه دښکلو او بدرنګو
په لید لو کښې دحق بینا چشمان کړه

کړه سمسور د اتحا دمیني ګلونه
معطره د وطن بن ا و بوستان کړه
ګلرخسا نو ته غوټی دوفا یوسه
او تر سره د (فنا) دزړه ارمان کړه

غوټی

نه یوا ځي بن کښې د بلبلو دلربا یمه
زه دخوږو شونډو و سره هم لزه آ شنا یمه
د پر کوم نازونه په بلبل او په بورا باند ې
مسته په نشه د غو ږدو کښې بې پروا یمه
پانی می رنګینې اوتنکی دی د رخسارپشان
زه د ښایسته مخ دلوی کتاب تفسیر معنا یمه
کله چه د ښکلوغوټی خولې ته نژدې کېږمه
زه د خوږوشونډو و د خو لګیو تمنا یمه
نن مې پسرلی د رنګ اوبوی دی خزانېږمه
نه هومره مغروره لکه ښکلو په ښکلا یمه
نن یمه غوټی صبابه ګل اوبیا به مراوې شم
زه د زمانې وفا بقا ته په سودایمه
لوی دفتر دیوان د اتفاق دی هره پاڼه مې
دامې معجزه ده چه په پټه خوله ګویایمه
د پر خمار نشه لرې خند ا دغو ږ پد وزما
خکه د خوږو رنګینو شونډو و معما یمه
کله د شبنم میو ته جوړه میخا نه شمه
کله هم د سرو شونډو پیاله کله مینا یمه
ژوندمې دلګیرې ځکرخونې نه ترکیب شوې دی
اوس لا د مالیارنا محرم لاس ته په سودا یمه

کله چه نظر په بد نظر شم پانې پانې شم
زه ډېره معصو مه پاك لمنه با حیا یمه

شین بستر دپانو کښې اوڅانګوسره غېږ په غېږ
زه پرته په غېږ کښې د مجنون لکه لیلا یمه

مخ نه‌مې طواف کوی نسیم ترصبا ژن پورې
ناڅې راته ستوری د سپوږمۍ په تماشا یمه

زړه‌مې د(فنا) پشان زخمې زخمې په وینو رنګ
مه‌غولېږۍ خلکو که ظاهره په خندا یمه

اغزی

بنه خوراك یم د اوښانو په صحرا کښې
قافلې سره د ناز نعمت کاروان یم
زه ګل نه یم چه بلبل پرمامین شې
د خنجر غوندې تېره بنو پشان یم
بېوفا حسن مې نشته چه شم مړاوی
نه پابند د پسرلی نه د خزان یم
کله کله اوبه شوی یم په وینو
بنه رنګین او تازه ګل د بیابان یم
د شهید زخم کفن ګنډم بېد یا کښې
هم د ګل بلبل دمینې ترجمان یم
زه د ګل آب وحیا ساتم په بن کښې
تېره توره مې په لاس بنه نګهبان یم
ځګر خون شم چه په لوڅو پښو چو خېږم
د پر خون لاس بنکلولو په ارمان یم
د دې خاورې سره مینه لرم زیاته
(فنا) ستر ګو د دښمن کښې مغیلان یم

گـــــل

مخ گلابشوندې غوټی اوسره رخسار گل
ستاپه مخ کښې مې لید لی د بهار گل
چه امبل دې د گرېوان پرسینه پروت دی
ځگر خو ن شو له دې غمه دانار گل
گل اندامې خپله گل بې مخ د ی ګل دی
خندا گل زلفې سنبل د ناز رفتا ر گل
سور اوشین ا و زېر په شنوپانو بنایسته ټول
هره خواکښې راشنه شوی دی بې شمار گل
رنگ او بو ی يې له خو با نـونـه زړه وړی
د پـر خوبا ن لری د حسن خریـد ا ر گـل
دا د گـل پـه حـق کښې لـوی ستم جـفـا ده
چـه لـه ځـا نـگو ځینـې وشکوی مالیار گل
چـه د رنـگ اوبـوی وفـا بـقـایـې نشته
ځـگـه نـلـری خـزان کـښې اعـتـبار گل
چه په سموغر ودښت کښې غاټول موج شو
د مـیـن د زړه د ا غونه شول گـلزار گل
د چشمانو په بادام کښې نرگس شین دی
د ا عجب څه ما لید لی د ی بېما ر گل
تبسم سـره چـه شونـدې وغوړېزی
سوزوی می د سکروټو په انـگار گل
د(فـنـا) د پـاره سـتـا حسن بهار دی
له رخسار نه به دې جار کړمه هزار گل



د پسرلی گل

چـه غـوټی و مـله نسیمه شرمېدمه
په شنو پاڼو کښې بلبل نه پټېد مه
د نسیم په تخنو لو په خند ا شوم
د بلبل خوږو نغمو سره آشنا شوم
چه پیاله راته له میوډ ك شبنم کړو
نو بلبل مې لپونی د عشق په غم کړو
چه سحر نسیم خولګی اخلی له مانه
شنبم و الوزی هوا ته لـه حیا نه
په نشه د پېغلتوب چه و غوړېز م
نو بلبل سـره په مینه نه مړېـزم
پناه غواړم له ناپاکو ستر ګو خار نه
لکه وخېزی چه تور خط له رخسار نه
غوړېد ل مې د بلبلو ترا نې د ی
په کتاب کښې مې د مینې افسانې دی
ټول مرغان زما د پاره نغمې وایی
د خونښی غـزل دزړه ترانې وایی
زمار نګ بنا یسته مخو نو سره سیال دی
په بنه رنګ دزړو نو وړل زما کمال دی
له وزمې نه مې، ډېر بنه عطر ساز یزی
په عطر و نو مې خوبان واړه نازېزی
په خبره کښې مې، د بنه حسن رازونه
زما زده ده له خوبانو ډېر نازونه

✻ ✻ ✻

زما بوی زما سیرت دی‌نه خوشبوی یم
زمارنگ زماصورت دی نه خوشروی یم
غوږ پدل ز ما سحر کښې خند پدل دی
لوږمعراج مې‌په‌وپښتانو کښې ټومبل دی
د ښایسته نجو نو او پېغلو د سر تاج یم
نه سینګار ته لکه بنکلو ز ه محتا ج یم
دماغونو کښې‌مې‌بوی‌نشه پیدا کړی
ډېر خوبان‌مې‌دښایسته‌رنګ‌تماشا کړی
کله کله مې له نازه په‌ګر یوان زړی
اوله‌خیاله‌کله‌زلفو کښې‌خوبان ز د ی
کله پانې پانې شم د چالمن کښې
کله شمه دپښو لاندې په‌چمن کښې
کله‌واخلمه خولګی له‌سر و لبانو
کله واخلمه بلاد تور چشمانو
کله ظلم ماله بوټی نه جدا کړی
په‌بازار کښې مې‌پیسو باندې سوداکړی
لکه بنکلې بنکلې پېغلی چه خرڅېزم
زه انسان‌نه یم له‌ننګه مړاوی کېږم
چه بلبل سره‌په‌مینه کښې رسوا شم
په‌خزان کښې پانې‌پانې له حیا شم
دبلبل سره مې ځکه وفا نشته
(فنا) کېږم په‌بنایست کښې بقا نشته

(c) kotabton.com: The Digital Library

د بلبل نغمه



په‌عالم کښې د گل مینې کړم مشهوره
په‌مرغانو کښې له مانه رسوا نشته
د گلانو له بنایست نه می عبرت شو
چه به حسن او جمال کښې وفا نشته
به صورت یې مه غولیږه خو انیږی
گلالی مخکښې چه آب وحیا نشته
په بنه‌بوی عطر او رنګ و نه غولیږې
لباسی خلکو کښې صدق و صفا نشته
پروانه‌د گل طواف کړی شربت اخلی
زمانه کښې بی مطلبه آشنا نشته
د شبنم غوندې له راز ه‌عبرت واخله
چه دنیا کښې بی ژړا نه خندا نشته
اې(فنا) شاعره دا زما نغمه ده
زه‌تل وایم چه دنیا کښې بقا نشته

د فواری ساز

تیت و پاس هسک و ژور به وی هر کله
خو دا مخکه دا آسمان او دا گردون دی
د عروج سره هر گوره تنزل شته
که آسمان ته‌هم څوک خیژی سر نگون دی


چه هر څومره ډېر جګېږی پورته کېږی
دلوېدلو درد يې هومره ډېر افزون دی
مدوجزر کښې مې ساز د زير اوبم شته
بې ژړا نه خندانشته دا قانون دی
په دې مرګ اوژوند پروامه ګړه شاعره
چه (فنا) نه وروسته خامخا ژوندون دی

بلاد



د بز ګر غنم به ببل کړم له وښو نه
د کو څو خاوري به پورته کړم هوا ته
زما ساز کښې څا نګې پاڼې وني ناڅې
دا نغمه به غږومه بښنوا ته
بې پروا يم حقيقت نه نه تېر يږم
د مه ښو ما جرا وا يه بيا ته
مالېدلې ډېر عيشو نه بنې چرچې دی
د خا نا تو ا فسا نې وايم ګډ ا ته
د خو ا را نو پيغا مو نه را سره دی
ر سوم يې د بډای عشرت سرا ته
يم ا ستاڅی د يتيم کو نډې له خوا نه
د ژړا ا حوا ل به و وا يم خند ا ته

د مخو نو حجا بونه نقا بونه
زه به يو سمه د ا ټول بلې دنيا ته
دخوبانو په کا کل به کوم لوبې
زه به لوڅ کړ مه مخونه تما شا ته
دا چه ډ پر لړم تلوا ر اوزر تېر يږم
د (فنا) دشعر پيغام و ړ مه بقا ته



دتوتی سندري

بند یم قفس کښې انسانا نو سره
لـه آزادی نه زړه ناکام دی زما
داستعمار زنـدان به‌کله‌شی ورا ن
د خپلواکی نعمت مرام د ی زما
بـن اوچمن می تل مدام یاد یزی
زرغـو نـی سـروې ته‌سلام‌دی‌زمـا
چه په قیمت د آ زا دی نه یی پـوه
تـاتـه دا خـوږغزل‌حـرام دی‌زما

د تـربیې منطـق ناطـق کړمـه ره
خـوږ ، نغمو سره کـلام دی‌زمـا
چه بی‌تعلیم‌اوجاهـل پـاتـې نشئ
داشـور فریاد سحر مـا بنام دی‌زما
زه پـه تعلیـم کـوم خوږی‌خـبرې
بی سو ا د ا نـو ته پیغام دی ز مـا
چـه نصیحت کوم ناپـوه ته (فـنـا)
سخنوری کښې لـوړ مقام دی زمـا

خانگه

دښکلانبایست‌دپاره‌بنه‌خدمت کړی ☆ گلالی گلان زما گلزارد پاره
پاڼه ، گل،لرگی مېوه مې گټوره ☆ شکوفه‌زمادبن‌سینگارد پاره
داغزی نښترمې لاس کښې‌دی خوشکر
قدرت نـلرم پرچا گـذار د پا ره
که‌توتې‌توتې‌په تبر شمه خیر دی ❁ چه‌جوړ یزمه‌جگدار غدار دپاره
چه‌وچ‌بزمه‌پژمی کښې‌خدمتکړم ❁ دغریب د نغری انگار دپـاره

دفطرت دتعاون اومرستې لاس یم
دمېو ؤ نعمتلرم دخو ار د پاره
اې (فنا) ته هم‌په رازدځانګې پوه‌شه
پورته نکړې لاس‌دچاآزا ر د پا ره

دحباب‌خندا

پیدا شوی د څپو له انقلاب یم
په‌نړۍ کښې دژوندون په‌هیڅ حساب یم
حوصله‌مې ډېره تنګه ده ژوندون کښی
زه‌طاقت دځپل سانلرم سیماب یم
ما توی زما ښیښه د څاڅکو تیزه
دنبستی‌په‌پیمانه کښې زوړ شراب یم
بې‌له مرګه مې خلا صون‌او چاره نشته
د ژوندون ببړۍ ګیر شوی په‌ګرداب‌یم
اې زاهده زه هم تل مدام‌ثنا کړم
د عدم د خانقا منبر محراب یم
دایوه خند ا زما د ژوند تعبیر دی
د دنیا وفا پایښت ته‌خوږ ځواب‌یم
بې آبی می په ژوندون کښې‌نه خوښېږی
نو دمر ګ تلا ش می‌ډېر دی چه‌بېتاب یم
زړه مې چوی چه دمظلوم ژوندون را یادشی
دظالم دکور پشا ن خراب خراب یم
ما نه واخلیء د بقاعبرت‌درسونه
دژوندون دفلسفې‌بنه لوی‌کتاب یم
ای (فنا) زماخبرې معمادی
که دی‌نه یم پېژ ندلی‌زه‌حباب یم

شنه پانه

معرفی د لوی څښتن قدرت د پاره
یمه ژبه د ثنا صفت د پاره
غوږومه شین څادرخپل په اخلاص زه
د بنا یسته و نو بنکلا زینت د پاره
چه و چېزمه د اور د وزخ ته لحمه
اوس چه شنه یمه بوستان جنت دپاره
دځادرلاندې مې سوږ سیوری مدام وی
مسافر ته خو شېبو راحت د پاره
پسرلی کښې مې معلومه وظیفه ده
زه ر اغلی یم دکار خد مت د پاره
په لمن کښې. بنې. خوزې مېو ې لرمه
انسانا نو ته لذ ت نعمت د پاره
سمسور تیامی نتیجه د اتفاق ده
لوی کتاب یم دولس وحدت دپاره
پرده پوش یم د ګلانو په چمن کښې
دحیا ، شرف، ناموس عفت د پاره
رانه جوړه زېړه پانه شی خزان کښې
د دنیا دژو ند (فنا) عبرت دپاره

★ ★ ★

د سیند څپو نغمې

زه وړو قطرو ځینی پیدا یمه ✲ هم د اتحاد الفت معنا یمه
څاڅکوته‌می‌مه‌گورئ‌په‌کم‌نظر ✲ وړه‌وکړئ مانه‌اوس‌دریا یمه
کله طوفاني انقلابی شمه ✲ و خت‌د سیلاؤ نوکښې بلا یمه
خپل‌هدف‌ته‌درومم‌عزم‌ټینګ‌لرم ✲ شپه او ورځ په‌چیغووواویلا یمه
لنډ مزل مې نه‌دی‌ځم بحرونوته ✲ زه د عظمت لو یه د نیا یمه
سازلرم سرود لرم نغمې لرم ✲ زبه د فطرت یمه ګویا یمه
داچه ولی ما نه‌ګټه نه اخلئ ✲ زړه می ډك له غمه په ژړا یمه
مځکه دښت‌بیدیازرغونولای‌شم ✲ بنه‌نعمت دلوی څښتن‌وړیا یمه
سورزرغون‌شی‌بن‌او ګلستان‌په‌ما ✲ د ر ددبیا بان ته بنه د و ا یمه
زه مستې جذبی دسمسورتیالرم ✲ رنځ د شاړو مځکو ته شفا یمه
ژوند ښې‌ذیرو حوته‌قطرې زما ✲ هم د وچ ډاګو نو مسیحا یمه
زړه کښې‌می‌دمینی درګوهرلرم ✲ وچوتورو خاوروته کیمیا یمه
درس‌دټیټ‌وپاس‌دی‌مدوجزر مې ✲ سازد زیرو بم کښې په‌نڅا یمه
کارمپرمختګ‌دی‌بېرته‌نکر ځم ✲ لو یه مد ر سه دارتقا یمه
وایمه سند ري د (فنا)د شعر ✲ ژ وند د سا کښا نوته بقا یمه

زیړی ګلونه


معجزې ته خپل حیران یم ✲ پسرلی کښې زه‌خزان یم
زه د شمعې د سر تا ج‌یم ✲ پتنګا نو ته معراج یم
کاپر ګل یم‌درپه در زه ✲ پرستش کړمه د لمر زه
د ر نخور د درد شا هدیم ✲ د مین‌د ر نګ‌قاصد یم
بنه روښا نه مې رنا ده ✲ که دچاستر ګه بینا ده
د شړ شم د ګلوباغ یم ✲ د غریب د کورځراغ یم
زه په تور و شپو چمن کښې ✲ یمه بله ډ یوه بن کښې
د (فنا) د شعر لمبه یم ✲ زه د سر و زرو ټو ټه یم

خـــــوز ار



زه خپلـه پیا له کښی خوز شربت لرم
ډ ك او زخـمی زړه لـه محـبـت لـرم
څوك نـدی خبر دزړه پـه حـال زمـا
سور پـه و ینـو بنه رنگین سیرت لـرم
نـوم چه مې اپستلی په مېو ؤ کښی دی
زه د سـر و د انـو بنه جـمـعیت لـرم
زه دانې دانې ګلګو نو او بنکو کړم
ځکه نـو داغـی داغـی فـطرت لـرم
ډك چه‌می زړګی د ی لـه غمونـو نـه
زه ډډکـو ز ړ و نـو مـصیبـت لـرم
پوښ کښې مې ځان بنه‌په آب ساتلی‌دی
زه لـه زما نـې ځـینـې عبـرت لـرم
ځان مې پټ ساتلی په پـر دو کښی دی
نه یـمـه بې شرمه ځـان له پـت لـرم
ظلم پـه مظلوم ز خمی ځکـر کـړ مـه
زه بـې رحـمـو زړونه شـکـایت لـرم
پوه شـه ای (فنا) زما د زړه پـه راز
راز مې خپل ساتلی خـوز طینت لـرم

* * *



مینې ته

ژن مې بیا دخولې او به خوزې خوزې شی
چه په زړه داستا شیرین خوند اې مینې شی
جوړ وی جشنو نه بن کښې شګوفه ستا
هم منظوره خاص وعام ته ده مبوه ستا
خوږ رنګین او درد لمند زړه لرې شفایې
چه د زړو نو تقویې ته بنه دو ایې
د ورنګې ستا لری د پرې معنی ګانې
د شا عر په یاد وې ماجرا ګانې
د شاعر ه زړه پشان ګلګون پر خون یې
درنځور شاعر پشان زیړ وزبون یې
په ظاهر که یې دور نګه زړه دې سپین دی
بنه دی پیژ نم باطن دې پر شیرین دی
ستا په رنګ کښې د خو بنې او غم تفسیر شته
ستا په غږ کښې د عاشق معشوق تصویر شته
کم خو نې له لاسه زیړ دی نیم بدن ستا
د مظلوم په و ینو سور بنکاری کفن ستا
زیړه خوا دې د یتیم مخ بېو زلی
ګلالی مخ دې رخسا ر د ناز ولی
بدایانو نه زیات بنکاری را ته ننګ ستا
چه غافل نه دی خوارانو نه زیړ رنګ ستا

کم دې نشی دا بنکلا او خو شبویی ستا
تل مدام دې وی مبو ګنبی سرخ رویی ستا
شرق و غرب یاورځ اوشپه تیاره رڼا ستا
د شاعر نظر کښی لمر، سپوږ می دنیا ستا
که خوا رانوته په لاس شی مربا ستا
په زړه پورې خریدار به وی (فنا) ستا



سپین زر

د ښځی ګله ښتیاچه ته سپین زریی
چه دتوروخاوروسپین بنکلی ثمریی
زړه دې چوی ځکه له دې په ره بی صبری نه
زمونږ مړی کفن نه درلود خبریې
د خوارانو بڼا یا نو پرده پوښ یی
د پاکی مظهر یې ځکه تاج په سریې
پاک لمنه یی ظاهر باطن د ې سپین دی
چه د ستر پاک لمن او سپین څادر یی
چه لباس شی درنه جوړ دراز هم ازشی
بیادسپینو انـدامـونوخـوږ همسریی
دسپین زیری خواردتن سپینه خامتایی
دسپین سروسر کښی سپین بنکلی څادریی
چه د ژمی سړوشـپو کښـی واورې اوری
د خـوار انـو بپـوزلـو تود بستـر یی
خو افسوس چه زمونږ له لاسه ځې ارزا نه
چه وطن ته بیر ته راشی نـوسره زریـی
زمونږ د مړی او ناموس کفن ټیکر یی
د(فـنـا) دستر ګو تور او دزړه سر یې

کیمیا بوټی

یـو سپین زیری بـوډا ډېرضعـیـف نـا تـوان و
د طمـع سره ژ و ندو ن ورتـه ډ بـرګـرانو
د اغـزی د بنـت و بیدیـا سـر ه یـې کـارو
تل مدا م به د سپیـن زیـری دا روز ګـا ر و
ا صطـلا ح سر ه بـو ډ ا با به خار کـش و
غیر تـی و بـا هـمـت ا و زحـمـت کـش و
لور او پرۍ یـې را واخیست لا ړ ببدیـمـاتـه
یـوه ورځ بـو ټو اغز و پسی صـحـرا تـه
پـه بیدیـا کښی بنه ګرمی وه سـره غر مـه وه
کانې بـو ټـی خـا وره مځکه بنه تـو د ه وه
ځوځ اغزی بو ټـی یـی ور پښـل بیدیـا نـه
یـو لوی پیټی یی را جو ړ کـه شا و خـوانـه
له ډېر کـار او ګر ځید لو نه ستو ما ن شـو
د ځوا نی قو ت او عمر په ار مـا ن شـو
دپـیـټی سـیوری ته کښینا سـتـه ستومـا نـه
پیاز سکړ ك یی نـو ش جان کهنه پر یمانـه
د ا غـز و پیـټی پـه شـار هـی شـو بـا ر تـه
ما ز یګر ستړ ی ستو مان ر ا غـی با ز ا ر تـه
پـه پیسو یی ا غـزی خر څ کړه یو دو کان کښی
بر یالـی شـو د هـمـت پـه امتحـا ن کښی
دې بو ډ ا ته هر اغـزی شـو کیمیا بو ټـی
د هـمـت پـه بـر کـت د طـلا بـو ټـی
د (فـنـا) نظر کښی کـا ر زحمت طـلا ده
هـر اغـزی و ۲ بنـه او بـو ټـی کیمیا ده



د غنمو وزی

د جنت د بنکلي وني خوږ ثمر وم
د دنیا له شرو شوره بی خبر وم
د شیطان په شر اخته بشر آدم شو
چه دادومره سر گردان په ما عالم شو
د دانو د معما مې دا تعبیر دی
چه انسان د نفس په لومه کښې اسیر دی
کرل شوی زه په لاس د یوبزگر یم
زه د گرانې خاوری پاك او گران ثمر یم
په سختی خواری تو دوخه کښې د لمر بیا
ربیل شوی یم په لوردخوار لوگر بیا
د غذا په نامه هر وخت مکرم یم
دسترخوان دخواربې ای کښې محترم یم
بیاد فخر تاج په سر کښې د امیر شوم
په بې طمعه او پاك لاس د یوفقیر شوم
سلطنت کښې بنکلی تاج زه دباچایم
په غربت کښې زه روزی د خوار گدایم
زه هم خاورنه پیدا یم چه ممتاز شوم
د شاهانو د سر تاج او سرفراز شوم
چه منظور دپول جهان شومه خاکسار یم
دانسان خدمت کومه چه تاجدار یم
بی نشان به (فنا) در گړی نشانو نه
که بشر دپاره و گړې خدمتو نه





د مچمچی ناره

د هر نبش د پاره ځان له خاصیت دی
نوش زما په نبش کښې اینبی طبیعت دی
د موذی رسبزی زیان دخیر خواه گټه
د لږ م چیچل ز ما شیرین فطرت دی
سود وزیان د ی د نیت پو ر ې تړلی
نیك اوبد دې د عمل دوزخ جنت دی
حدای که څه هم دی دتولو خونظر یې
په مسلم رحمت کافر باندې نفرت دی
دباران څاڅکی په هر ځای کښې یوشان وی
د لږ م په نبش کښې زهر ز ما شر بت دی
د هر طعم په طمع مه او سه چه خوږوی
تریخ اوتر یومی خوش یې خونده هم لذتدی
نفس مې پاك دی له مردار وچه گبین کړم
مادګل په عطر وکړی قناعت دی
په اخلاص مونږ وفادار دخوږ نظام یو
خپل باچا سره مو مینه محبت دی
که خپل حق اونیك مرغی غواړې تلاش کړه
دز حمت غیږ کښې آرام کړ ی راحت دی
ا تفا ق نه مو گبین د ی پیدا شو ی
که هوښیاریې تا ته لوی درس دعبرت دی
دژوندون معجون له غم خوښی ترکیب شو
ځکه تریخ دی مرګ که څه هم حقیقت دی
چه ترخې خوږې خبرې تل مدام کړی
پښتنو ټه د ا (فنا) هم غنیمت دی



چینه

داخلاص او صفا جام کښی خوږ شر بت یم
زه په دښت بېد یا اوغر و کښی لوی نعمت یم
د پرمې خو بښ دی د منګیو قطارونه
محوه کړی یم د پېغلو سنګا رونه
له رونو خوږو او بو خپلې ډک جام یم
د خوبانو بنه همراز سحر ما بنام یم
شاوخوا کښې مې، د بنو پېغلو ټخاوی
د خوږو خوږ و نغمو خوږه غوغا وی
پېغلی ګوری مخ زما په هنداره کښې
زه کومه تما شی دې نندا ره کښې
چه په سرو شو نډ ولا سو هقا بله شم
بیا خو ډکه د شرابو سره پیاله شم
زه د دوی د غېږ تصویر په غېږ کښی اخلم
د کږو زلفو ځنځیر په غېږ کښی اخلم
بنکلوم زه تل رنګین رنګین لاسونه
لندوم بنایسته مخونه لباسونه
عاشقانو ته بنه ځای د انتظار یم
مینانو تو محل د پاک دیدار یم
اوربدلی مې رازونه نیازونه
هالیدلی یارانې او ډېر نازونه
غاړه کېږی زما غاړه کښی یاران تل
مرور او پخلا کېږی مینان تل
ډکوی چه په نخرو نخرومنګی خپل
زما خوله اوبه اوبه شی خورم زړګی خپل
مانه لاړه شی پرمایې پروانشته
ای (فنا) په زما نه کښې وفا نشته

منگی



چه له چینی نه ډکـــوی په نخر و یا ر منـــگی
نـو ځـا ی لری کـه چپری وکړې افتخـار منـگی
ته چـه لـه نا زه د مین پـه مـرګ پـروانلـرې
څنګه‌دې اینبی په تند ی باند ې دا خوار منگی
شـوم د غمونو سر ه غېز په غېز لـه د ډره غمـه
نن چه می و لید ه په غېز کښې د د لد ا ر منـگی
ای عزیزا نو که زه مر شوم زما په قبر کـښېز د ی ء
یو ه ټو ټه د لـحـد نښـه په یاد ګـار منـگی
خود به یې پېغلی په تخر ګ یاپه تندی ګرځوی
د تواضع په اور چه و سوزېد خا کـسا ر منـگی
ا و ښکې یې تو یـې شو ې د پېغلی د سینې‌لەپاسه
لز معلو مېزی محبت کـښی ګـر فتـار منـگی
دې نه خبرؤ چه خو بان بی په تند ی ګرځوی
نو ځـا ن ستی که د سکر و ټـو په ا نـګا ر منـگی
دسپینو لېچو په غا ړې کـښی د ډ ېـر عیشونه کـوې
د زړه منـگی دې راته ما ت که پد ې کار منګـی
زه د یوې تراخې خبرې پـه ا ر مـان پـاتـی یـم
ته ښکلو ې سـرې خوزې شو نډ ې وار په وارمنگی
پېغلی مدام څکی‌په سروشونډو ستاله خولې نه او به
نو د شرا بو پیما نې د ې تا نه جـا ر منـگی

زه دپستو نریو ملاؤ دپر هوس لرمه
کاشکې زر خاوری‌شم چه‌جوړ کړی را نه یار منګی
هر ما ز یګر دمستو پښغلو قا فله کښی (فنا)
بخت و طالع ته ګوره څنګه شو سرد ا ر منګی

طبی نباتات

بښکه لوی‌څښتن‌مو دپر کریم‌دی ◆◆ دی حقیقی‌شافی‌اولوی‌حکیم دی
بن اوچمن کې‌جوړروغتو نو ګوره ◆◆ دښت وبید یاکی درملتونو ګوره
په لحینو بو ټو کښې تاثیر دشفا ◆◆ لحینو ګلا نو کښې اکسیرد دوا
جام دګلونو کښې شهدو نه پراته ◆◆ داغزی نښکې‌هم زهرونه پراته
په توروخاورو کښې کیمیا وګوره ◆◆ په هریو بوټی کښې د واوګوره
دطبیعت غږدې روغتون دی فنا ◆◆ چه‌مرګ‌علاج‌ستادژوندون‌دی‌فنا

چرس

د ګلو بو ی مې خما رونه لر ی ✡ عطرمې ز هر آزا ر و نه لری
مضر یم ژوند او دصحت د پاره ✡ دښمن دننګ اوشجاعت دپاره
زه‌دخپل‌دوست سره دښمن‌یم‌مدام ✡ هریو آشنامی‌زرخریددی غلام
زه عقل و ژنم د جنون د پاره ✡ بربادی غوارم د ژوندون‌دپاره
مانه پرهیزوکړی مضر نبات یم ✡ دژوند دښمن‌دبدبختی‌ممات‌یم
راشه‌که غواړې‌نندارتون‌وګوره ✡ د لپونتوب دژوندافسونوګوره
زه‌په‌لوګی کښې دپر کیفونه لرم ✡ هره غوزه کښې عالمونه لرم
چرسی‌پروازکړی‌اند‌پښنوکی‌زما ✡ سپوزمی ته‌خپړی په‌نشوکی‌زما

دپر و فاداره عملیان لرم زه
(فنا) لیلا یم لپونیان لرم زه

یو وزی انگوریم




یو وزی انگور یم نمونه د جمعیت یمه
ډېر خوزاتفاق لری دانې زما ملت یمه
ډکه پیمانه زما د مینې له خوزوخینې
ټولوته منظور د شیرینې په برکت یمه
بن مې میگده ده دشربت ډکی پیالې په لاس
ډېر بنه خوږ شربت لرم ساقی د طبیعت یمه
ډکه ده بنیښه ز ما خمار مستی او کیف خینې
لویه مدرسه دکائناتو د عبرت یمه
ډوب به شې سیلاب کښې دخمار او د نشو زما
زه په مدو جزر د او بو کښی کیفیت یمه
تېرشه له خودی خینې که غواړې معجزی زما
اوریمه اوبو کښی دمستی سوړ حرارت یمه
کیف می جوړوی وحشي حیوان اهلی انسان خینې
یو خاشکی اوبه لرم خو هومره لوی قدرت یمه
پاک ندی انسان چه جوړوی له مانا پاک شراب
اصل زما پاک دی دپاک خدای بنه خوږ نعمت یمه
جوړه میخانه اوخمخانه مې دزاهد کره
زه هم یو مخلوق دپاک څښتن یم عبادت یمه
بنه په صدق خدمت کوی مېوه مې انسانانوته
زه شیرین ثمر دکار زحمت اوزراعت یمه

هلـــه‌په مزومزوخوندونو (فنا) کښزمه
کله‌چه‌دسرو شوند و پياله کښې خوږشربت‌يمه

دام اودانه

دخيالونوپـــرلـــې وښـــه هـــوا وه
شـيـن چمـن بـنو بـوستان لويه فضاوه
په دې بن کښې‌ښې‌مېلې‌چرچې ياران و و
بنې مېوې خـوږې اوبه هررنګ ګلان و و
يومارغه و په دې بن کښې بنه خوشحا لـه
دمـانـۍ پشان يـې ونـو کښـې وه جـا لـه
بوټـۍ غوښـې به ددې مـارغـه خـوراکو
خـوږې‌سرې وينـې اوبـــه‌دده‌دخښاک و
دامارغه به ګل خوږې نـورې دانـې هـــم
بدلولـې بې د خپـل بـنـو جـا مـې هـم
يوزيرک صياد راپښې شو په دې بـن کښې
د مرغانو دام يې کـښود پـه چمن کښې
له قضا نـه د ا مارغه په دام کښې ګيرشو
د صياد سره قـفـس کښې بـيـا اسـيـر شو
د ا مارغه‌نه و خايـــن او رشـــوت خـــوارو
دده بـــن مـانۍ ژوندون حـرام مـردارو
دا دانـــه د خـيـا نـــت رشـــوت دانـــه وه
دخـــايـــن دښـــکـــار د پـــاره بهـانـــه وه
دا صـياد نـــه و قـــانـــون او عـدالـــت و
دا قـفـــس نـــه و زنـــدان او اســارت و
نه دانـه وه اې (فنا) نـه دام حلـقـې وې
د خا ين په د وارو پښـو کښې‌زولنې و ې

بندی کوتره



چه ستا د پښو د زنګ آواز واو رمه
د زولنومي شر نګهار یاد پزی
ته هم بندی یې دانسان په لاس کښی
ځکه خو نخواړه استعما ر یاد پز ی
خدایږ و کو تره ستا د حال په لید و
په جیلخانا نو کښی مې احرار یادپزی
چه واورم ستا خوږ روح پروره غمبر
د محبو بې شیر ین گفتا ر یا د پزی
چه ستا ر نګینې بنکلې بنې ګورم
نومې د بنکلی یار سنګا ر یادپزی
چه نوم دې واخلم اې نیک مرغه مارغه
د آزادۍ رو غې ر و یبا ر یادپزی
ته مې استا ځی شه پیغام مې یوسه
چه د (فنا) خوا خوږی یار یادپزی

داوریا زمزمه

سپینه واوره (فنا) سپین او یاسره زروی
خوږلی طوفان سیلاب ،خطر ، ضرروی
دباران څاڅکی دخدای رحمت باله شی
څه چه اوری خدای به کړی مقرروی

داهم یو خیال

په مستو میو مسته مستی سره پیداشی
یوشین چمن ته راشی او شنه شی په خندا شی
وفا په و عده وکړې ز ما د زړه طبیبه
رنځور د انتظارته د درد اورنځ دواشی
کزې دګلو څانګی داستاپه احترام شی
ګلرخې ته مشغوله دګل په تماشاشی
دګل د بوټو شاته ما ځان وی غلی کړی
نا څاپه زه پیداشم لز شانتی وارخطاشی
باطن کښی بنه خوشحاله ظاهر کښی لز ملاله
په نازاوپه غرور د پرزمالوری ته راشی
ته وګورې سپوزمی ته زه وګورم ستا مخ ته
زه هم په تماشاشم ته هم په تماشاشی
زه هیله دربنکاره کړم ته د پروکړې نازونه
یو څو شیبې جنګی شی یو څو شیبې پخلا شی
حیران شم چه داڅنګه یوځل شی مهربانه
ستم ځینې جلاشی وفاسره آشناشی
د مینې په دنیا کښی سلطان اوملکه شو
خمار له بې خوبی ته رنګینه له حیا شی
سر کښیږدې زما غیږ کښی تسلیم دپاکی مینی
له سره تر قدمه یوه ټوټه و فاشی
ګل توی شی ستا په غیږ کښی ګله اوسی زما په غیږ کښی
زه ستاد عشق (فنا) شم اوته راته لیلا شی



ـــــــــــــ پوه ـــــــــــــ

دبادام په څېر سوری سوری ړوندښه دی
هغو سترګو کښی چې شرم وحیا نشته
د کور په کور کښی جوړ شیرین محفل دی
خو یاران د زمانې کښی و فا نشته
د ګیلاس ګیلاس کښی ښه خوازه شربت شته
خودزړو پیالې کښی صدق و صفا نشته
د فلک له لاسه شین دناک غمناک زړه
چه د نرخ بازار کښی ولی بقا نشته
د سرو شونډو په عناب صفر اما تبزی
دمین تندې ته بله دوا نشته
بهی نلری زېړ رنګ ستا اې رنځوره
ناک منه د مخ اوزنې (فنا) نشته

دپښتو نخوا دغږ ونو آواز

زېړو سرو ګلانونه لمن کښی ګلستان لرو
د پرښه رنګین بن یونه مالیار اونه دهقان لرو
سی بنې منظر ې شنه چمنونه اوباغونه پر
شاو خوا دروکښی دریابونه مست روان لرو
غټې جګې ونې ځنګلونه بوټی هر رقم
ګل لرو اغزی لرو غا ټول او ارغوان لرو

دوبی کښې هم واورې وی زمونږ په جګوځو کو کښې
ځکه پسرلی کښې مونږ هم ژمی هم خزان لرو
روح تازه کوی مدام هوا دسر درو زمونږ
پی غوندې بښې پاکې اوخوږې اوبه روښان لرو
هر کلله وی خلاص زمونږ دمینې غږ کېږ دیوته
هم د مستو پېغلو بښو ځلمیانو ډېر خوبان لرو
لوی لوی ګړ نګونه مودعزم او ثبات ننبې
تل چه کوی لوبې د شاهین سره زرکان لرو
ډکه له هیبت و پرې نه هره مغاره زمونږ
پام کوه غلیمه چه زمږ وغوندې غرځان لرو
ښو د زمانې دتغییر او تحول شاهد
زړو کښې حکایات اوروایات ګوره بې شان لرو
ډېرې حادثې ماجرا ګانې مولیدلی دی
ډک د زمانې د تاریخو نو لوی داستان لرو
تیزې موتر اوسه دی ر نګینی د غلیم په خون
خاورو لاندې ډېر دوطن لار کښې شهیدان لرو
ډک له سر لوړې او افتخار ځینې تاریخ زمونږ
هرې تیزې شاته مرچلونه نما یان لرو
ننګ او غیرت روزی شامدام آب و هوا زمونږ
تاج یو هونږ د مخکې ننګیالی ځلمی ځوانان لرو
درس د عظمت شان وشوکت دی جګواله زمونږ
نه یا ستو مغروره پر سر لاره د کاروان لرو
ګله به تر سره شی آرزو هوس ارمان زمونږ
زړو کښې ډک کانونه دیاقوت او د مرجان لرو
داچه اوس د شعر په خوږه ژبه ستا یل شوی یو
مونږ لکه (فنا) درد مند شاعر او ترجمان لرو

خـــاوره

فنا

توريمه په رنګ خو سره لعلونه سره ګلان لرم
غېږ کښې د شيرينې او ليلا پشان خو بان لرم
يوسر کښې مې بن بوستان اوشنه شنه چمنونه دی
بل سر کښې مې وچ دښت وبېدیا اوشار واګونه دی
ځان که دې لږ خوار کړمه به جوړ درته ګلزار شمه
زه که دې له پاده ووتم نو به خار زار شمه
لاس دې کړه تنها کې ځان خولې چه زه آباد شمه
وکړم پر مختګ نړۍ کښې دېر په ښه نوم یادشمه
سر له مانه جار کړه ومې ساته له دښمن ځیغې
لاره کښې دننګ ناموس وپرېزه مه کشتن ځینې
مانه پیدا شوی یې (فنا) زه ستا جوړ هریمه
ماته کم نظر مه کوه ګنج د سیم او زریمه

تیزه

دخوبانو زړه په ما باندې تشبیه شی
لېونی قیس ته باران زما لیلاده
چه په سرو وینو ګلګونه شمه هله
له ګوهر اولعل نه جګه زما بهاده
دوطن په خپواکۍ کښې لرم برخه
مجاهد د پاره جوړ سنګر زماده

د خوارانو حال ته ځیر شه اې بدایه
چه یې ستایه‌دروازه کښې شور غوغاده
که نه ستامانې به رنګه کرمه پوه شه
چه ولاړې دمانې تاداوپه‌ماده
زه په تله کښې مقیاس دکم او زیات یم
حق باطل کښې عدالت زما معناده
زمرد لعل و یاقوت زمانومونه
زماغبږ کښې لاجورد او هم طلا ده
(فنا) واخله مانه‌ډیر بنه کلک درسونه
چه ټوټه مې د ثبات عزم دنیاده

کوچی


له‌حیااوشرم‌ونازه دکه پکه
لکه ناسته چه‌وی ناوې په ډولې کښې
دکمیس پاولې یې ستوری مخ سپوزمې وه
ځلپده اوبرښپده توره کېزدې کښې
یابې‌وریځ دتورکاکل په‌مخ خوره شوه
یابه‌وه کېزدې رڼبانه دې سپوزمې کښې
بې حیاوزمه به‌ورغله کېزدې ته
ځان بې واچاوه دناز غاړه غړې کښې
په زړګی کښې یې اوربل دپېغلتوب‌و
ناقراره دځوانې په بې صبرې کښې
د هوس هیله ارمان سره مشغوله
تاوپده را تاوپده به په مستې کښې
شوه ناڅاپه د (فنا)له خیا له پټه
دکېزدې پرده یې‌ولوپده سپلې کښې



آسمانی پیغله

★ ته دشپی★ناوې یې دې لویی★فضا کښی ★ ★ ★
را روانه یې په ناز★ستورو نڅا کښی ★
لکه نجل★په ناز غرر و او ★ په نخرو ځی ★ ★
سره سنګینه په تکمین او په ورو ★ ورو ځی ★
★ هسی ★بنکارې★د شا ★عر دخیال نظر کښی ★
لکه پیغله چه سنګاره شی سره زر کښی ★ ★
خوارغریب★شاه وګدادی★خریدارستا ★
نه ولور دی ټاکل★ شوی نه رو یبار ستا ★ ★
کله بدر ★او محاق کله★هلال شی ★
★ یا د سپین★مخ تورو وروځو ★په مثال شی ★
د محاق څا در نه نیم مخ★را بنکاره کړې
★ لکه ★پیغله پلو★ لاندې نندارہ کړې ★ ★
د خمار او کیف★نه ډکی تما★ شی ستا ★ ★
خورې★ بحر وبــر فضا کښی پلو★شی ستا★
کیفیت د پاکی★مینی ستا رڼا کښی ★ ★
★ د ښایسته حس ★جلوې★دې تماشا کښی ★
د خوبانو★په مثال کله کپدای شی ★ ★
د دلبر سره می سیال ★کله کپدای شی ★ ★
★ نه دې★ پوزه نه دې★غوږ ★نه دې شین خال شته ★
نه دې یار غوندې ★ښایسته★بنکلی جمال شته ★

★نه دې سرې ستر گی★خمار ې نه سور★شا ل شته★
نه★د ې ن ا ز ا و★د کزو کتو★کمال شته
خو★بیا هم د یار★تسل کړ م په★د یدار ستا
د ز ړ ه★چاک گنډم★د وړانگو په★هر تار ستا
نه ظا لمه★ستمگر ه★نه خو★نکاره
له خوبانو★ځینې ډیره★و فا★د اره
د فراق شپه★کښې د ې وړانگې★سر ې لمبې★دی
★پلوشې د ې زخمی★ز ړ و نوته★بر چې د ی★
د و★صال دشپې★څ ر اغ تر★صبحدم یی
دمینو★پا ك محرم★هم ر از★همدم یې
ا ې دښه★حسن ا و★ر مز و ر از★خاوند ې
ا ې د کیف★الهام تاثیر★اعجا ز★خاوند ې
معجز ه د ې★ر ا بنکا ر ه★ش ق ا لقمر★کښې
ننو تی یی★گر یوان د★پیعمبر کښې★
★ستا له نو ره★د ك د میو★پیما نه شی★
ستو★ر ی ستا د★مخ په شمعه★پر و ا نه شی
د کوې★ د خیبر★لار سپینو★شید ونه
جو ړ★وې د کیمیا★بو ټی له★اغز و نه
تا لید★لی دمستا★نو پیما★نی د ی
تا لید لی★د ځو ا نا نو★جپل خا نی★ د ی
تا لیدلی★په سر و ینو★شهیدا ن★دی
★تا لید لی★مظلوما ن او★ظا لما ن د ی★
کله★پټه شی★د ور یځو په★څا د ر کښې
یا★غا ړې شی★د نا ر و غ سره★بستر کښې
ز یړه★بنکا ر ې★د شړ شم د گلو★باغ یی
د غریب★د لار د خوا ر★د کور و★څراغ یې
ستا څ ر ا غ★د مظلو ما نو★سره مل★د ی
★ستا ر نا★کښې نه رهزن★شته او نه غل دی★



اې سپوږمیه ته دسپینو زرو جا م یې
دغریب بله ډیوه تیاره ما بنا م یې
په یوه سترګه ټو ل ګورې یې حق بینه
ځکه یې د ټولو زړو نو کښې شیر ینه
دمجهو لو موهو ماتو لوی جهان یې
د بشر له شړه اوس لږ په امان یې
شرق و غرب سره آ رزو ستا د و صال شته
ستا په سر نړۍ کښی شور او قیل و قال شته
اې سپوږمیه څوار لسمه شپه دې ستاوی
باوفا څوارلس کلنه دلربا وی
د نسیم د چلبد لو خوږ آواز و ی
په سا حل کښې داوبوخوندو رسازوی
نه جفا ژړا بیلتو ن نه انتظاروی
نه سوداغم اند پښنه وی نه ا غیار وی
پسرلی وی نیمه شپه وی او (فنا) وی
پاکه مینه کرشمې وی ناز خنداوی

او ر بشې

زه بېشکه دغلو د ا نو امیر و م
چه خوراك د هر مسکین او هر فقیر و م
مدر سه د پند عبرت مې افسانه ده
معما د قنا عت زما دا نه
دانسا ن د نفس د پاره لوی غلیم وم
حیوانی شهوت د پاره لوی حکیم وم

ډیر تو پیر دی پید اشوی په جهان کښې
حیوانی فطرت غالب شو په انسان کښې
زه پخوا و مه خوراك د انسانانو
خوروی مې اوس انسان په بودګانو
دغوایانو دپښو لاندې یم غوبل کښې
اوس د خروتوبره کښی پروت یم هر غوجل کښی
زماشراب پیری کافرپه سیم وزرنن
مسلمان را ته په کمه کړی نظر نن
زه دفقر خاکساری ته کیمیا یم
(فنا) رنځ د حرص و آز ته بنه دوایم



سپین زیری مالیار

یارانې مې دبلبل او ګل لیدلی ✻ سې نغمې مې د مرغانو اورېدلی
صبا یی به کرځېدم د ګلو خوا کښې
لور رمبی به مې هر کله وپه ملاکښې
له اوبونه مې اخیستی دصفا درس
له بلبل نه مې اخیستی دوفادرس
د سپو زمی دشپو لذت مې نه هېرېزې
د خوږو مېوو نعمت مې نه هېرېزې
ما غاړی غاړی لید لی ډېرې خا نکې
ما لیدلی د سپوزمی زرینې و ړا نکی
دلمر څرك په ژبه دا قرار می یاددی ✻ دشبنمو د نیستی قرار مې یاددی

زمالاسونو پښو کښې د پراغزی دی تللی
د پراغزی ماپه اغزیو دی پستلی
بارانو نو د پر ژړلی دی صحرا کښې
ماځوځان اغزی ربلی دی بیدیا کښې
چه یاد پزی مې د اوښ او شار د اګونه
د غا ټول پشان مې زړه لر ی داغو نه
د خوښی سر وغمونه شته هر ځای کښې
هم خندا ځانته ژړالری په پای کښې
د آبشا ر و فوا رو فر یا د ژړا ده
د غوټی د خوښی ژوندیوه خندا ده
مالیدلی دی رنګین بنا یسته ګلونه
د خو با نو په ا و ر بل ټټر لاسونه
مستي پیغلی ګرځید ې به په هر بن کښی
مینا ن به غیږ په غیږ و په چمن کښی
ګلو لاندې به وېدې وې نجونې ځوانی
په سینو به یې د یرې د ګلو پا نی
اندامونه مې څنا رغوندې لر ز پزی
د شبنم په څیر می او بنکی را تویږی
ضعیف شوی نوردستر ګو کم می زوردی
په څراغ دزړه کښی بل دمینی ا و ردی
د سپین ګل پشا ن می زیره شوله سپینه
خوځو ا نیږی زما پس ته پس ته مینه
پسرلی کښی (فنا) شین بن او بوستان دی
پرما و ا و ره ا وری عمر می خزان دی



د شکوفې جشن

شکوفې دطبیعت شهکار هنریی
ته د څا نګو په افق کښی سپین سحریی
دماشوم په څېر دښاخ زانګو کښی زانګی
ګوشواره یی ته دښکلی پېغلې څانګی
ستا په ګل کښی دځوانی پېغلتوب نازنشته
په ښکلا کښی دې دعشق اومینی راز شته
تل په تاوی ښکلی څانګی مرمر ینی
لکه خیال سره غاړه وی لېچی سپینی
یی د لښتو په سپنسی کښی مرغلرې
سپینی غاړې ستا امېل ته منتظرې
د ګلپانو تویېدل دې یوطوفان دی
د ګوهراو مرغلر وجوړ باران دی
لکه سپین زرلاس د څانګی نه تویېږې
د چمن دپېغلوبوټو پښو ته لوېږې
په تا جوړه بن کښې جشن چراغان شی
ډېر خوبان دې په ښکلا مین حیران شی
غوږوکی ته دښکلا ستر مظهر یې
چه دپېغلې څانګې سپین ور پښمین څادریی
رسېدلی دښکلا په لوړ معراج یی
چه دناوې دلاس ګل او د سر تاج یی
ته په څانګو کښی خیالی ید بیضایی
د بهار ناوې دسپینی خولی خندا یی
یادوې ژمی واورینی څانګی ما ته
ځیروې مې د غر یب دتن خا متا ته

بنه لطیفه اوپسته‌یی لکه سپین لاس
ستا لمن نه‌لپرې غوارم د ګلچین لاس
پاك لمنه یی داغ نشته ستا لمن کښی
کاشکې خښ شمه(فنا) ستا په کفن کښی

دارغوان مشعل

هره څانګه می د سرو ګلو مشعل دی
لکه سرې منګلی اورپه ما کښی بل دی
زه دطور دغره داوریو ا نعکاس یم
په نکریزو بنه‌رنګین دقدرت‌لاس یم
خو دسرو نو کانو تیغ خنجر می نشته
دهنر لاس یم اغزی ضرر می نشته
پاڼه ګل می زمرد یاقوت مرجان دی
دشاعرخیال‌ته مَی څانګه د جنان دی
تل دغرو دامان په ماباندې رنګین وی
خونه زما لمن نا پاکه او ننګین وی
زما لمن‌ته دګلچین نا پاك لاسونه
نرسېزی یم دغرو باننګه نجو نه
تشبیه‌نکرې زماڅانګه په‌خونین لاس
یا دظلم په سرو وینو کوم ر نګین لاس
که می وپوښتی (فنا)څوك په قیامت کښی
لاس به پورته کړم ناحق خون شهادت کښی

دوربښمو چنجی

دتوت پاڼه‌می خوراك‌دی‌چه‌نبات‌دی✤دوربښمو په کفن کښی‌می‌ممات‌دی✤
دوربښمو په‌چنجی‌مشهورحیوان یم✤انسانی خدمت‌نه‌جارز ماحیات‌دی✤



د شبنم مرغلرې

اې شبنمه دلاله جام کښې سیماب یې
دغوټۍ پیا له کښې عطر د ګلاب یې
ستا هنداره کښې صفانور او ځلا شته
پر خې ستا په تورې شپې کښې هم رڼا شته
ته د ګل په مخ خولې د شرم اوناز یې
هم د آب هم د آ بر وسپیڅلی راز یې
د شنبلی په تېره څوکه هسې بنکاری
لکه اوښکی وی بنو باندې ولاړې
داغزی په نښې کښې جوړ دزهر افسون یې
په ساغر د ګل کښې خوږ شربت میګون یې
هسې بنکارې د شنبلیو شین چمن کښې
پا ولې داره شین بخمل د پېغلی تن کښې
ته صد ف یې د سپین غاښ خوله دغوټۍ کښې
یې دستور و ګوشواره غوږ د سپوږمۍ کښې
تورو شپو کښې د چمن شین فرش آسمان ستا
مرغلرې او الماس زلې باران ستا
په نڅا او پټ راځی د شپې چمن ته
بیا په غلا صبایی وخته ځی وطن ته
ته د شپې تورتم کښې جوړ آب حیات یې
خودورځی بیا وزمه راز د ممات یې
د نسیم په وزرالوزې آسمان ته
ته په لمر مین یې ځی د عشق جهان ته
ته چه والوزې د ګل مخ شی بی آبه
غوټۍ واړه بی پردې شی اې سیمابه

له پستې نه ځې دعلوې پاك حرم ته
محوه کېږې له و جوده ځې عدم ته
د حیات اوبه اوهم دمرګ سراب یی
دفانی ژوندون تعبیر لکه حباب یی
ته رونې اوښکې دستورو دژړا یې
درسته شپه ژاړې صبا ته بیا خندایې
ای شبنمه ته دتور وشپو تورتم کښی
ژاړې او ښکې تو یوې دچا په غم کښی
ګوندې ستابه کوم یتیم کو نډه یادپزی
چه دې او ښکې په دې شپه کښی راتو یېږی
یابه ناوې دواده شپه کښی ژړ پزی
په الماس ګوته سره زرجبری ودپزی
یې دآب ، آ برو ، حیا او صفا ټکی
ددرد مند شاعر د زړه د ژړا ټکی
ستا دانې زما د نظم آب و تاب دی
هر یو څاڅکی دې په در ګوهر حسا ب دی
په ګلپا نې کښی (فنا) تـه زوړ شراب یـې
دهنر اوشعر جهان کښی انقلاب یی

☆ ☆ ☆

مرګ او ژوند

طبیعت په پسر لی کښی ژوندی کېږی
بیا په دوبی کښی پخېږی ځلمی کېږی
شی رنځور دردمند زهیر اوزړ خزان کښی
ژمی مری چه د پر ناتوان سپین زیری کېږی

(c) kotabah.com: The Digital Library

د بز گر چیغه



د وطن دبن نیا ئګی نن ماشومان دی
روزل کښې ددې خاورې آب هوا کښی
د توبی ژړاباران دخد ای رحمت دی
خو د زهد فصل سوزی په ریا کښی
چه کرې هغه به ربی لوی متل دی
دحرام تخم حاصل ، حرام زنا کښی
مزرعه به می سمسوره تل مدام وی
د نیکی تخم کرم دزړو بېدیا کښی
دنیت اخلاص اوصدق احسان بز ګر یم
دوفا زړی شنیدم دعښق دنیا کښی
دژوندون حاصل څه نه دی بی عمله
د بقا درمن به واخلم په (فنا) کښی

خپشاوه

خپشاوه که دادب بن په قلم شی
نوبه هله شین زرغوند زړوحرم شی
ای ځلمیه د هپواد دبن مالیا ر شه
باخبره داځزیو لله آزار شه
خپشاوه کړه له محیطه خپل وخاوره ټول
چه وطن شی بن بوستان گل و ګلزار ټول

بنایی پري شی د خو درو بو ټو سر ونه
چه یی ګټی ځینی ډ پر وی ضرر و نه
دنهضت بن و بوستان بنه پاك صفا کړه
خطر ناك اومضربوټی ټو ل امحا کړه

ته کړه پاکه د هبواد دپېشرفت لاره
د ظالم او د خاین له خس و خاره
په بر چه که خښاوه د ظلم بن شی
(فنا) هلته به سمسور باغ د وطن شی



تمباکو څه وایی

★ زما پاڼه د چلم د خولی تاج دی ★
★ په لمبو کښی سوزېدل زما معراج دی ★
★ په منلی د یارانو انجمن کښی ★
★ ټرم ډېر خړ د ا ران په هر وطن کښی ★
★ د لبو ګیو په حلقو کښی می بندیان شته ★
★★★★★★ زولنو کښی می بانډ ه ډ ر عملیا ن شته ★
★★★★★★★ که څه هم مضرد بنمن زه د روغتیا یم ★
★ د دوکتور طبیب حکیم د رنځ دوا یم ★
★زه د بنمن یم دهغه چه زما مل شی★
★کیوچنیان زما عمل کښی بد عمل شی★
★له سړو شونډ وخو لګیم اخلم چه سیګار یم★
★★★★★★ پاکی خولی مړدار وم که زه نصوار یم★
★★★★★★★ که څه هم زما لوګی نا پاك حرام دی★
★خوعا قل آزاد انسان زما غلام دی★
★بد لوم زر په ایرو دامی کمال دی★
★سوزوم پیسی دخلکو دامی چال دی★
★لوبی کړم په هوش او فکر د انسان زه★
★دبشر ټمیز (فنا) کړمه حیران زه★



غاټول

د صحرا دوچو شوند وترجمان یم
غم شریك دلعل یاقوت اودمرجان یم
د دښتو نوتما شاکړم ځگرخونه
دوطن غم په سر وو ینو کړم گلگونه
زه له باغ اوله باغوانه بې نیازیـــم
د خونخوار ودر نگینو پنجورازیم
په ښایسته مخ بد نظر په زړه زخمي کړم
داغ په زړه دوچ داگونو بې آبیکړم
زه دسرو ستر گوداوښکو پیاله یم
په سرو وینو لیکل شوې مقاله یم
تورو خاورو ته به ور کړم مه سره وینه
په هوس دسرسبزې په ډېره مینه
دلیلی دښکلی مخ سره هم راز یم
دمجنون داغی لړمون سره دمسازیم
خال په ښکلی مخ داغی کړم په ځگرزه
د مین د زړه له حاله یـم خبر زه
دشهید دقبر سرته بل څراغ یـم
دمزار په شاوخوا یې رنگین باغ یم
دزړه داغ مې درنگین زخم تعبیر دی
زماسور رنگ دشهید دروح تفسیر دی

نا روا خولگی له سرو شونډو ګلګون کړم
تو یول دبېګناه خون لحګرخون کړم
د(فنا) دزړه د زخم لوی شاهد یم
درد منداڼو ته دده درنځ قاصد یم



بېګناه ه ته پاک محل جنت نشان یم
ګنهګار و ته دوزخ په دې جهان یم
که مظلوم او بېګناه ه په ما کښې ښند شی
نود دوی د او سپلو آتش فشان یم
د قاتل زانی رهزن او غل د پاره
زه دقید او اسارت نوی جهان یم
یو تور تم یم د الزام په قلمرو کښې
دخاین ژوندی جسد ته ګور ستان یم
لرم شرنګ دزولنو لخنځیر هر ګوټ کښې ه
دخونخوار ظالم دپاره ښه مکان یم
سلطنت یم د یوسف غوندې صادق ته
دخلیل پشان خلیل ته ګلستان یم
په تفسیر دمعمامې (فنا) پوه شه
پېژند نه ګه مې غواړې زه زندان یم

★★★

زرکې ته



تا ته چه گورمه بهار یاد یزی
د پښتونخوا مځکه کوهسار یا دیزی
کله چه گورم د زرکانو ډلې
د مهر یانوسره ښکار یا دیزی
چه ستا د ناز اونخرو تګ ته گورم
هله د یار د ناز فتار یا دیزی
کله چه ستا ښکلی څېره و ینمه
نو د محبوبې تش دیدار یا د یزی
چه ستا نغمې مې غوږ ته ور سیږی
خوږی خبرې د رویبار یا د یزی
چه په قفس کښې ستاسندری واورم
د ګنهګار و ا ستغفار یادیزی
ته چه خوږې مستې بدلې وایې
نو مې (فنا) شیرین ګفتار یاد یزی


گلچین شاعر

د جمال شا ✲ عریم ✲ ځم د خیال چمن ته
✲ ✲ ننوزم بیا د حسن ا و غېز گلشن ته
ټو ✲ لومه د ✲ بنکلا بنایسته گلان زه
✲ ✲ ✲ جو ړو م ځانته د گل نوی جهان زه
✲ دپستې ✲ سینې باغچه کښی گل گلزاردی
✲ د نجلی په غېز کښی موج گل د انار دی
په ✲ ر نگینو لباسو نو آ ر ا سته د ه
✲ د وصال شپه کښی د گلو گلد سته ده
نری ملا ✲ یی گلدسته د سپینو گلو
✲ د ✲ سر و گلو گلد سته یې په منگلو
دا پرسر با ندې ✲ هم ایښی دگل تاج ✲ دی
د✲ د ې وصل د ارمان آ رزو معراج د ی
زې دستر گوپه نرگس ✲ کښی شراب څمگه
گلا لی ✲ مخ نی عرق د گلا ب څکمه
دسروشونډوله گلزار یې ✲ غوټی ا خلم ✲
دې غوټی نه ✲ بنه شیر ینه خو لگی ✲ اخلم
چه د ناز د نا زبو په بو ی ✲ مستېزم ✲
بیادعطر و بوی جهان ✲ کښی محوه ✲ کېز م
زه (فنا) شاعر یم عشق زما گلشن ✲ دی ✲
زه بلبل یم د گل ✲ پانه مې کفن دی

خزان

جسم اوروح ماده معنی یو ځای حیو ا ن شو
عقل او نطق ور سر ه یو ځا ی شو انسان شو
دځوا نی ا و پېغلتو ب ژ و ند و ن بهار و
چه دمرگ چپاو پر ې راغی بیا خز ا ن شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



PROPERTY
ACKU
6185

محمد جان (فنا)

پای

څونړۍ کښې دژوندون اومرګ نظام شته ☆ دبقا هیله (فنا) سره مدام شته
چه آغاز انجام دې نشته هغه ته یې ☆ بل ضرور دهر آغاز پسې انجام شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ودانی

د بناغلی قندهاری د دولتي مطبعې د رئیس لـه هغې ښی
او په زړه پورې همکـاری له کبله چه ددې کـتاب د چاپولو
په متعلق یې له ما سره کړیده خپله شکریه او دزړه لهکـومی
امتنان د نمانځنی سره هغوی ته څرګندوم.

د بناغلی چراغعلی دحروفچینی مدیر ،بناغلی ګلاب الدین مامور
او د محمدرفیق او سخیداد کارکونکو هغهزیار چه دوی ددې
کتاب په بنکلی کولوکښې اپستلی دی دیادونې اوقدر وړبولم
او د دولتی مطبعې دټولوکارکونکو بریالیتوب غواړم «فنا»

د (فنا) نور کتابونه

۱:ـ ګلبرګها دفارسی نثرونومجموعه
۲:ـ د اورلمبی (نظم)
۳:ـ چارګل (نظم)
۴:ـ پتنګ (نظم)
۵:ـ دشاعرخیال (نثر)
٦:ـ فریادی شاعر چاپ شویدی

سمون لیک

مخ	کرښه	ناسم	سم	مخ	کرښه	ناسم	سم
الف	۱۰	تی	ته	۵	٦	زړو	زوړ
د	۴	غوړلیدلی	غوړیدلی	ی	۲۵	رزښت	ارزښت
د	۸	بشرلی	پسرلی	۱٦	۱۳	نندراه	نندارە

(c) ketabton.com: The Digital Library

DE
SHAER PESARLAY

BY

M. JAN (FANA)

APRIL 1961

KABUL

دولتی مطبعه

کابل

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library